# دیالکتیک ماتریالیزم
# او
# تاریخي ماتریالیزم



ژباړه: ویاړ

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**جوزوف ستالین**

# دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم

سپتمبر ۱۹۳۸

ketabton.com - The Digital Library

**ديالکتيک ماترياليزم او تاريخي ماترياليزم**

ستالين

ژباړه:وياړ

برېښنايي خپرېدنه: چنگاښ ۱۴۰۵

خپرندويه: سيند خپرندويه

---

ketabton.com - The Digital Library

# لیکلړ

**دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم................................ ۱**
**مارکسیستی دیالکتیکي میتود ........................................ ٤**
الف: طبیعي ښکارندې یو له بل سره تړاو لري ........................ ٤
ب: طبیعت په دایمي حرکت او بدلون کې دی ........................... ٤
ج:طبیعي کمي بدلونونه د کیفي بدلونونو لامل دی.......................... ٥
د: تضاد د طبیعت ذاتي برخه ده ...................................... ۹
**مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم .................................... ۱۵**
الف: ماتریالیزم ................................................... ۱۵
ب: عیني واقعیت .................................................. ۱٦
ج: نړۍ او قوانین یې د پېژندلو دي.................................... ۱۸
**تاریخي ماتریالیزم............................................... ۲۸**
الف: نو اصلي ټاکنده ځواک کوم یو دی؟ ................................ ۳۰
ب: د تولید لومړنۍ ځانګړنه ........................................... ۳۳
ج: د تولید دویمه ځانګړنه............................................. ۳٤
د: د تولید دریمه ځانګړنه ........................................... ٤٦

ketabton.com - The Digital Library

# ديالکتيک ماترياليزم او تاريخي ماترياليزم

ديالکتيک ماترياليزم د يو مارکسيستي ـ لنينيستي گوند نړۍ‌ليد دی. دا نړۍ‌ليد په دې خاطر ديالکتيک ماترياليزم نومېږي، چې د طبيعي پديدو په تړاو يې پاملرنه، څېړنه او پوهېدنه **ديالکتيکي** او د همدې ښکارندو په اړه يې تفسير او استنباط او تيوري **ماترياليستي** ده.

تاريخي ماترياليزم بيا د ټولنيز ژوندانه په ارزونه کې د ديالکتيک ماترياليزم د آرونو پراخول دي. همدا شان د ټولنې، تاريخ او ټولنيز ژوندانه په ارزونې کې د ديالکتيک ماترياليزم د آرونو تطبيقولو ته تاريخي ماترياليزم وايي.

مارکس او انگلس د مارکسيستي ديالکتيک د نوعيت د تشريح لپاره معمولاً **هگل** ته، د هغه فيلسوف په توگه استناد کاوه، چې د ديالکتيک بنسټيزې ځانگړنې يې فورموله کړې. خو دا په دې مانا نه ده چې د مارکس او انگلس ديالکتيک کټ مټ هماغه د هگل ديالکتيک دی. حقيقت دا دی چې مارکس او انگلس د هگل د ديالکتيک «منطقي هسته» واخيسته او ايده‌اليستي پوټکی يې ورته لېرې واچوو. هغوی ديالکتيک لامتکامل او په مدرنه علمي بڼه واړو.

مارکس وايي:

> «زما ديالکتيکي ميتود نه يوازې دا چې له هگلي ديالکتيک سره توپير لري، بلکې د نوموړي له ديالکتيک سره مستقيماً په تضاد کې دی. هگل باور لري چې د فکر کولو بهير، چې د «اند» تر

ketabton.com - The Digital Library

نامه لاندې يې ان په يو خپلواک شي بدلوي، د واقعي نړۍ خالق او دا نړۍ يوازې د «اند» خارجي او ظاهري بڼه ده. خو زما په فکر، اند له هغې مادي نړۍ پرته بل څه نه دی، چې د انسان ماغزه يې منعکسوي او د افکارو په بڼه يې اړوي.» (مارکس، د دويم الماني چاپ پاييزه، کاپيټال، لومړی ټوک)

مارکس او انگلس د خپل ماترياليزم د تشريح لپاره معمولاً **فويرباخ** ته د هغه فيلسوف په توگه استناد کوي، چې بېرته يې ماترياليزم خپل سم ځای ته راوگرځو. خو دا په دی مانا نه ده، چې د مارکس او انگلس ماترياليزم کټ مټ د فويرباخ ماترياليزم دی. مارکس او انگلس په حقيقت کې د فويرباخ د ماترياليزم «اصلي هسته» واخيسته، هغه يې د علمی ـ فلسفي تيوري په توگه پراخه کړه او له ايدهاليستي او مذهبي ـ اخلاقي قيودو څخه يې آزاده کړه.

فويرباخ، چې اساساً په خپله يو ماترياليست و، د ماترياليزم له نوم سره يې مخالفت درلوده. انگلس په کراتو ويلي، سره له دې چې فويرباخ ماترياليستي «بنسټ» درلود خو «په دوديزه ايدهاليستي ځنځېرونو کې بند پاتې و» او د ده «اصلي ايدهاليزم هغه وخت لا ښه څرگندېږي چې د دين او اخلاق په اړه د ده فلسفه ولولو.»( مارکس او انگلس، ۱۴ ټوک، ٦٥٢ ـ ٦٥۴ مخونه)

د ديالکتيک ريښه **ډيالگو** ده، چې يوه يوناني کلمه ده. ډيالگو د خبرو اترو او مباحثې مانا لري. په لرغونو زمانو کې ديالکتيک د هغه هنر په توگه

ketabton.com - The Digital Library

کارول کېدو، چې په پوهېدلو سره به يې د سيال کس د خبرواترو تناقضات معلومول، حقيقت به يې رابرسېره کاوه او پر تناقضاتو به برلاسي کېدل.

په پخوانيو زمانو کې يو شمېر فيلسوفانو باور درلود، چې په اندونو کې د تضادونو موندنه او يو له بل سره د متضادو افکارو مخامخېدنه، د حقيقت د کشفولو تر ټولو غوره لاره ده. د فکر په برخه کې دا ديالکتيکي طريقه، وروسته طبيعي ښکارندو ته هم وغځېده او د طبيعت‌پېژندنې په ديالکتيکي ميتود بدله شوه. ديالکتيکي ميتود باور لري چې د طبيعت ټولې ښکارندې په دايمي حرکت او بدلون کې دي. د دې ميتود له مخې په طبيعت کې د تضادونو تکامل، چې د متضادو طبيعي ځواکونو د متقابلې اغېزې پايله ده، د طبيعت د پرمختګ لاملېږي.

نو ديالکتيک د منځپانګې له پلوه د متافيزيک مخالف اړخ دی.

ketabton.com - The Digital Library

۱

# مارکسیستی دیالکتیکي میتود

د مارکسیستی دیالکتیکي میتود ځانګړي آرونه:

**الف:طبیعي ښکارندې یو له بل سره تړاو لري او د همدې تړاو له مخې مشخصېږي**

دیالکتیک د متافیزیک په خلاف؛ طبیعت د اشیاؤ او ښکارندو هغه ناڅاپي ټولګه نه ګڼي، چې یو له بل نه جلا، منفرده او خپلواکه وي، بلکې د اشیاؤ او پدیدو هغه واحده بشپړه ټولګه یې ګڼي، چې یو له بل سره ارګانیکې اړیکې لري او یو د بل په واسطه ځانګړي کېږي.

د دیالکتیک میتود له مخې طبیعي ښکارنده په منفرده توګه او د چاپېریال له نورو پدیدو سره د اړیکو له پام‌نیولو پرته پېژندلی نشو.که چېرې طبیعي پدیدې د خپل چاپېریال له شرایطو پرته په پام کې ونیسو او جلا کړو، نو ممکن بې‌مفهومې شي. یوه ښکارنده هغه وخت پېژندلی او تشریح کولی شوو، چې د چاپېریال له نورو پدیدو سره یې تړاو په نه‌بېلېدونکي او په مشروط توګه په پام کې ونیسو.

**ب: طبیعت په دایمي حرکت او بدلون کې دی**

د متافیزیک په خلاف؛ د دیالکتیکي میتود له مخې طبیعت د استراحت، بې‌حرکتۍ، ودرېدنې او د نه بدلېدنې حالت نلري؛ بلکې د دایمي یون او بدلون او د دوامداره نویستني او پرمختګ په حال کې دی؛ تل په کې یو څه رامینځته کېږي او پرمختګ کوي او یو څه په کې پاشل کېږي او مري.

ketabton.com - The Digital Library

نو د همدې لپاره د ديالکتيکي ميتود له مخې ښکارندې نه يوازې د دوه‌اړخيزو اړيکو او متقابل تړاو له مخې، بلکې د هغوی د حرکت، بدلون، پرمختګ، پيدايښت او زوال له پلوه هم بايد په پام کې ونيول شي.

ديالکتيکي ميتود هغه څه ته لومړيتوب ورکوي چې رامينځته کېږي او پرمختګ کوي، که څه هم د اوس لپاره پاينده ښکاره نشي. همدا ډول دا ميتود هغه څه نه ماتېدونکی ګڼي چې رامينځته کېږي او پرمختګ کوي او هغه پديدې ورته لومړيتوب نلري چې مرګ يې پيل شوی وي، که څه هم د اوس لپاره پايندې وبريښي.

انګلس په دې اړه ليکي:

> «له ډېرو کوچنيو تر ډېرو لويو شيانو پورې، د شګو له دانې تر لمره پورې، له پروتيست(لومړنی ژوندی سلول ـ ی.ستالين) تر انسانه پورې، ټول طبيعت په دايمي پيدايښت او زوال او په دايمي بدلون او نه‌ودرېدونکي حرکت او تحول کې دی.» (هماغه کتاب، ۴۸۴ مخ).

انګلس د همدې لپاره وايي چې ديالکتيک ټول «شيان او د هغوی ادراکي انځورونه اساساً د اشياؤ په دوه‌اړخيزو اړيکو، په حرکت، په لړ، په رامينځته‌کېدنې او محوه‌کېدنې کې په پام کې نيسي.» (مارکس او انګلس، څوارلسم ټوک، مخ ۲۳).

**ج: طبيعي کمي بدلونونه د کيفي بدلونونو لامل دی**

د متافيزيک په خلاف؛ ديالکتيک، تکاملي بهير د ودې هغه ساده بهير نه ګڼي، چې په کې کمي بدلونونه په کيفي بدلونونو نه‌اوړي؛ بلکې

ketabton.com - The Digital Library

هغه تکاملي بهير يې ګڼي، چې په کې کم‌اهميته او جزئی کمي بدلونونه په څرګند«بنستيزه بدلونونو»اوړي؛ یانې په کیفي بدلونونو اوړي. د ديالکتيک له مخې تکاملي بهير هغه بهير دی چې کيفي بدلونونه نه په تدريجي ډول، بلکې په چټک او ناڅاپي ډول، له يوه حالته بل حالت ته د يوې ځپې په بڼه تر سره کېږي. دا بهير نه د تصادف له مخې، بلکې د جزئی او تدريجي کمي بدلونونو د طبيعي تراکم په پايله کې رامينځته کېږي. د همدې لپاره دا ميتود تکاملي بهير يو دوراني حرکت نه ګڼي؛ د هغه څه ساده تکرار يې نه ګڼي چې له مخکې رامينځته شوی وي، بلکې يو نزولي او صعودي حرکت او له يو زوړ کيفي حالت څخه يو نوي کيفي حالت ته يې بدلون ګڼي؛ له ساده څخه پېچلي او د لا ټيټې څخه لا لوړې ته يې تکامل ګڼي:

انګلس وايي:

> «طبيعت د ديالکتيک ازمېښتون دی. د يادونې وړ ده چې نوي طبيعي علوم د دې ازمايښت لپاره فوق العاده بډايه او ورځ تر بلې زياتېدونکي مواد برابروي. له دې موادو سره ثابتېږي چې طبيعي بهير يو ديالکتيکی بهير دی، نه متافيزيکي.دا مواد ثابتوي چې د طبيعت حرکت په يوې ابدي، ثابتې او په ورته تکراري دايرې کې نه تر سره کېږي، بلکې له يوه حقيقي تاريخه تېرېږي.
> دلته ښايي له داروين يادونه وکړو، چې په لاندينې اثبات سره يې د طبيعت په اړه يې پر متافيزيکي نظريې سخت ګوزار وکړ: ټوله معاصره

ketabton.com - The Digital Library

> ارګانیکه نړۍ، بوټي او ژوي او همدا ډول انسانان د هغه تکاملي بهير محصول دي، چې په ميليونونو کلونو يې ادامه لرلی دی.» (هماغه کتاب، ۲۳ مخ).

د ديالکتيکي تکامل، چې له کمي بدلونونو څخه کيفي بدلونونو ته لېږدېدنه ده، د لا توضيح په پار انګلس وايي:

> «په فيزيک کې... بدلون يعنی له کميت څخه کيفيت ته لېږدېدنه. دا بدلون د هغه کمي حرکت د تغيير نتيجه ده، چې يا په ذاتي ډول په جسم کې موجود وي او يا هم له بهره ورکول کېږي.مثلاً د حرارت درجه د اوبو د مايعتوب په پيل کې کومه اغېزه نلري، خو که چېرې د اوبو حرارت زيات يا کم کړو داسې شېبه رارسېږي چې د اوبو د ماليکولونو جذب بدلېږي او په يو حالت کې په بخار او په بل حالت کې په کنګل بدلېږي. همدا ډول د برېښنا حداقلې کچې ته اړتيا لرو چې يو پلاټيني سيم روښانه کړو. هر فلز د حرارت په يوې ځانګړې درجې کې وېلې کېږي او هره مايع تر يوه معين فشار او درجې لاندې کنګل کېږي.که د شته وسايلو په کارولو سره وکړای شوو د هرې مايع لپاره لازم حرارت برابر کړو، نو هره مايع په يوه خاصه درجه کې جوشولی شوو او

ketabton.com - The Digital Library

همدا شان هر گاز تر وړ فشار لاندې او په یوې قطعي درجې کې په کنګلېدلو سره په مایع بدلولی شوو...

....هغه څه چې د فیزیک د ثابتو درجو په نامه پېژندل کېږي(هغه درجې چې په کې یو حالت په بل حالت بدلېږي - ی.ستالین)، په اکثرو حالتو کې د هغو اساسي درجو توپیر ښکاره کوي چې په کې د حرکت کمي زیاتېدنه یا کمېدنه (تغییر) د یو جسم د کیفي بدلون لاملېږي او ورسره سم کمیت په کیفیت اړوي.» (هماغه کتاب، ۵۲۷ - ۵۲۸ مخونه).

انګلس د دې موضوع د لا تشریح لپاره د کیمیا یوه بېلګه هم راخلي:

«کیمیا د اجسامو د هغو کیفي تغییراتو علم دی، چې په یو جسم کې د کمي تغییراتو د ترکیب تر اغېزې لاندې رامینځته کېږي.

هګل لادمخه په دې مسئلې پوهېدو...اکسیجن ته پام وکړئ:که چېرې په یو مالیکول کې د دوو معمولو اتمونو پر ځای درې اتمونه وکاروو، نو اوزن تر لاسه کوو، چې له بوي او د عکس‌العمل له پلوه په څرګنده ډول له معمولي اکسیجن سره توپیر لري. له نایتروجن او سلفر سره د اکسیجن

ketabton.com - The Digital Library

بېلابېل نسبتونه خو په ځای پرېږدئ چې هر یو
یې داسې نوي اجسام جوړوي چې کیفیت یې له
ټولو اجسامو سره توپیر لري!» (هماغه کتاب، ۵۲۸
مخ).

انگلس په پای کې پر **دېورینگ،** چې تر وسه یې هګل رټلی، خو د نوموړي دا مشهوره قضیه یې په پټه اخیستی، چې له بې‌حسې نړۍ څخه حسدارې نړۍ ته او د ناارگانیک جسم څخه ارگانیک ژوندانه ته لېږد په حقیقت کې یو نوي وضعیت ته ورځول دي، د نیوکې په ترڅ کې وایي:

«دا د هګلیونو د اړیکو د مېچولو دقیقاً هغه غوټې گز دی، چې په ځانګړو غوټو کې یې بشپړه کمي زیاتېدنه او یا کمېدنه د کیفي بدلون لامل کېږي. د بېلګې په توګه په اوبو کې، که تودې وي که یخې، د ایشېدلو او کنګلېدلو ټکي هغه غوټې دي، چې په کې د یو نورمال فشار تر لاندې د یو نوي تراکم اوښتون رامینځته کېږي چې په پایله کې په همدغه ټکي کې کمیت په کیفیت اوړي.» ( هماغه کتاب، ۴۵ ـ ۴۶ مخونه).

**د: تضاد د طبیعت ذاتي برخه ده**

د متافیزیکي اصولو خلاف؛ دیالکتیک باور لري چې د طبیعت په ټولو شیانو او ښکارندو کې دنني تضادونه ذاتي دي، ځکه چې ټول شیان مثبت

ketabton.com - The Digital Library

او منفي اړخونه لري، تېر او راتلونکي لري، ځينې شيان مري او ځينې وده کوي او د همدې تضادونو تر مينځ مبارزه، د زاړه او نوي تر مينځ مبارزه، د مړتوب او زېږېدنې تر مينځ مبارزه، د زوال موندونکي او وده لرونکي تر مينځ مبارزه؛ د تکاملي بهير منځپانګه او له کمي بدلونونو څخه کيفي بدلونونو ته د لېږد داخلي محتوا جوړوي.

ديالکتيکي ميتود د همدې لپاره باور لري چې له لره بر ته تکاملي بهير د ښکارندو د همغږه راڅرګندېدو پايله نه، بلکې په ښکارندو او اشياؤ کې د ذاتي تضادونو د راڅرګندېدنې پايله ده؛ د مخالفو تمايلاتو، چې د همدې تضادونو پر بنسټ عمل کوي، د «مبارزې» نتيجه ده.

لنين وايي:

> «ديالکتيک د کليمې په رښتيني مانا د اشياؤ د هغو تضادونو پېژندنه ده، چې د اشياؤ په دنني جوهر کې موجود وي» (لنين، فلسفي يادښتونه، ۲٦٥ مخ).

او زياتوي:

> «تکامل، د تضادونو **مبارزه** ده» (لنين، ۱۳ ټوک، ۳۰۱ مخ)

دا په لنډه کې د مارکسيستی ديالکتيکي ميتود د آرونو ځانګړتياوې وې.

آسانه به وي چې پوه شوو د ټولنيز ژوند او د ټولنيز تاريخ په مطالعې کې د ديالکتيکي ميتود آرونو پراخول څومره زيات اهميت لري او څومره

ketabton.com - The Digital Library

مهمه ده چې دا میتود په ټولنیز تاریخ او د پرولتاریا ګوند په عملي فعالیتونو کې وکارول شي.

که باور لرو چې په نړۍ کې منفردې ښکارندې نشته او ټولې پدیدې له یو بل سره تړلې او متقابلې اړیکې لري، نو ښکاره ده چې د هر تاریخي اجتماعي نظام او یا د هر ټولنیز غورځنګ ارزونه باید د «ابدي عدالت» له دریځه او له وړاندې انګېرل شویو اندونو له مخې تر سره نکړو، څه چې اکثره تاریخپوهان یې کوي، بلکې د هغو شرایطو له پلوه یې وارزو، چې دا رژیم یا ټولنیز غورځنګ یې رامنځته کړی او ورسره تړاو لري.

ښکاره ده چې د مریيتوب رژیم به په اوسنیو عصري شرایطو کې یو بې‌مانا، احمقانه او غیرطبیعي رژیم وي. خو همدا رژیم د لومړني کمون نظام د پاشېدلو په شرایطو کې کاملاً یو منطقي او طبیعي رژیم و، ځکه چې د لومړني کمون د رژیم په پرتله پرمختللی و.

د ۱۹۰۵ کال په روسیې کې، چې تزاري نظام او پانګواله ټولنه واکمنه وه، د یو بورژوا- دموکراتیک جمهوریت غوښتنه ډېره منطقي، سمه او انقلابي وه؛ ځکه چې بورژوایي جمهوریت هغه وخت یو مخکښ ګام و.خو د شوروي د سوسیالیستي جمهوریتونو د اتحاد په شرایطو کې د بورژوایي جمهوریت غوښتنه یوه بې‌مانا او غیرانقلابي غوښتنه ده، ځکه چې بورژوایي جمهوریت د شوروي جمهوریت په پرتله وروسته پاتې دی.

نو ویلی شوو چې ټولې ښکارندې له شرایطو، مهال او له مکان سره تړاو لري.

دا ښکاره خبره ده چې د ټولنیزو ښکارندو له **تاریخي** ارزونې پرته د تاریخ پرمختګ او موجودیت ناشونی دی، ځکه یوازې تاریخي ارزونه کولای

ketabton.com - The Digital Library

شي په هغه څه د تاریخ د علم د بدلېدلو مخه ونیسي، چې د ګډوډو پېښو او د بې ماناو تېروتنو ټولګه ده.

د دې تر څنګ، که نړۍ په دایمي حرکت او تکامل کې ده او د تکامل قانون د زاړه د مړینې پر ځای د نوي زېږون دی، نو ښکاره ده چې نور «ابدي» ټولنیز نظامونه، د خصوصي مالکیت او زبېښاک «همېشني اصول» او له فیوډاله د بزګر او له پانګواله د کارګر د اېلتیا «دایمي اند» شتون لرلی نشي.

نو نتیجه اخلو چې سوسیالیستي رژیم پر پانګواله نظام واکمنولی شوو، څنګه چې یو وخت پانګوال نظام د فیوډالي رژیم پر ځای واکمن شو.

نو باید خپل کار او فعالیت د ټولنې پر هغو پوړونو او طبقاتو متمرکز کړو چې تکامل او راتلونکی لري، سره له دې چې اوس حاکم ځواک نه برېښي. پر هغو پوړونو او طبقاتو تمرکز په کار نه دی چې پرمختک نلري، که څه هم د اوس لپاره ځواکمن وي.

د تېرې پېړۍ اتیایمو کلونو کې، کله چې د ناردونیکانو او مارکسیستانو تر منځ مبارزې دوام درلود، د روسیې پرولتاریا د ټولنې ډېره کوچنۍ برخه او انفرادي بزګران د ټولنې پراخه اکثریت و. خو پرولتاریا د یوې طبقې په توګه د پرمختګ په حال کې وه، حال دا چې دهقانان د یوې طبقې په توګه د تجزیې په درشل کې وو. مارکسیستانو یوازې د همدې لپاره پر دې طبقې خپله کړنه او دریځ متمرکز کړ، چې د یوې طبقې په توګه د پرمختګ په حال کې وه. دا د مارکسیستانو تېروتنه نه وه؛ ځکه، څنګه چې پوهېږو پرولتاریا په دوامداره توګه له یوه کوچني قوت څخه داسې وده وکړه چې په لومړي درجې تاریخي ـ سیاسي ځواک بدله شوه.

ketabton.com - The Digital Library

که غواړو په سیاست کې تېروتنه ونکړو، ښایي مخې ته وګورو نه شا ته.

که له ورو کمي بدلونونو څخه ناڅاپي او چټک کیفي بدلونونو ته اوړون د تکامل له قوانینو شمېرل کېږي، نو بیا ښکاره ده چې د زیارکښو پرګنو انقلابونه بالکل پېښېدونکي دي او د انقلاب ښکارنده بشپړه یوه طبیعي ښکارنده ده.

نو له پانګوالۍ سوسیالیزم ته انتقال او د پانګوالۍ له ژغه د کارګرې طبقې خلاصون، نه د پڅو بدلونونو او سمونونو له لارې، بلکې یوازې د پانګوال رژیم د کیفي بدلون یعنی د انقلاب له لارې تر سره کېږي.

که غواړو په سیاست کې بیا هم تېروتنه ونکړو، ښایي انقلابي ووسو، نه سمونپاله.

که د داخلي تضادونو د راڅرګندېدنې له وجې او د متضادو ځواکونو د مبارزې او پر دې تضادونو د غلبې په پایله کې تکامل رامینځته کېږي، نو ښکاره ده چې د پرولتاریا طبقاتي مبارزه هغه بشپړه طبیعي ښکارنده ده، چې مخه یې نه نیول کېږي.

د همدې لپاره د پانګوالۍ رژیم پر تضادونو پرده باید وانه‌چوو، بلکې له دې تضادونو پرده پورته او برملا یې کړو؛ د طبقاتي مبارزې مخه ونه‌نیسو، بلکې تر پای یې ورسوو.

که غواړو په سیاست کې تېروتنه ونکړو، یو بې‌جوړجاړانه طبقاتي پرولتاریایي سیاست باید تعقیب کړو، نه د پرولتاریا او بورژوازي د ګټو د همغږۍ کولو رفورمیستي سیاست؛ په سوسیالیزم کې د پانګوالۍ د «ودې» جوړجاړانه سیاست باید تعقیب نکړو.

ketabton.com - The Digital Library

دا هغه مارکسیستی دیالکتیکي میتود دی، چې په ټولنیز ژوند او ټولنیز تاریخ تطبیقېږي.

تر هغه ځایه چې ماتریالیستي فلسفې پورې اړه لري، دا فلسفه له ایده‌الیستي فلسفې سره له بنیاده په تضاد کې ده.

ketabton.com - The Digital Library

## ۲

# مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم

د مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم ځانګړي آرونه دا دي:

**الف: ماتریالیزم**

د ایده‌الیزم په خلاف، چې نړۍ د «مطلقې ایدې»، د«یوه کُلي روح» او د «شعور» د تجسم په توګه ویني؛ د مارکس مادي فلسفه باور لري چې دنیا بالذاته **مادي** ده او په نړۍ کې بېلابېلې ښکارندې د هغو مادو بېلابېلې بڼې دي، چې په حرکت کې دي. د مارکس د مادي فلسفې له مخې د پدیدو متقابله شرایط او اړیکې، چې پر دیالکتیکي میتود ولاړې دي، د متحرکې مادې د تکامل قانون جوړوي او د مادې د حرکت د قوانینو پر بنسټ نړۍ د ودې او تکامل لار وهي او کوم «کُلي روح» ته اړتیا نلري.

انګلس وایي:

> «ماتریالیستي نړۍلید یعنی د شته طبیعت آسانه پېژندنه، البته بې له دې چې له بهره څه ورزیات شي.» (مارکس او انګلس، ۱۴ ټوک، ٦٥١ مخ).

لنین د لرغوني ماتریالیست فیلسوف، **هراکلیوس** وینا ته په اشارې سره وایي چې د نوموړي وینا «د دیالکتیکي ماتریالیزم د بنسټ ډېره ښه تشریح ده» هراکلیوس باور درلود چې«دنیا یوه ده او چا نه ده پیدا کړې، نه خدای او نه انسان. نړۍ هغه ژوندۍ لمبه وه، ده او همېش به وي چې په سیستماتیک ډول هم ځلېږي او هم مري.»(لنین، فلسفي یادښتونه، ۳۱۸ مخ)

ketabton.com - The Digital Library

**ب: عيني واقعيت**

د ایده‌الیزم په خلاف، چې ادعا کوي، دا یوازې زموږ شعور دی چې واقعاً موجود دی او مادي نړۍ، هستي او طبیعت یوازې زموږ په شعور، زموږ په احساساتو، اند او لید کې شتون لري؛ مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم په دې باور دی چې ماده، طبیعت او هستي عیني واقعیتونه دي، چې زموږ له شعوره بهر او په خپلواکه توگه شتون لري. ماده د اند او فکر په پرتله لومړی ځای لري، ځکه چې د احساساتو، اندونو او شعور سرچینه ده او شعور دویم او فرعي ځای لري، ځکه چې د مادې او د هستي انعکاس دی. اند او شعور د دې لپاره دویم ځای لري چې د مادې محصولات دي. د بېلگې په توگه ماغزه، چې د فکر کولو ماده ده، د تکامل په ترڅ کې د کمال وروستي کچې ته رسېږي. نو د دې لپاره چې په ستره تېروتنه اخته نشوو، فکر له مادې باید بېل نکړو.

انگلس وایي:

> «د فکر او هستي او د طبیعت او اروا تر مینځ اړیکې د ټولې فلسفې اصلي مسئله ده...کوم ځوابونه چې فلاسفه دې مسئلې ته ورکوي، هغوی په دوو سترو اړخونو وېشي: هغه کسان چې اروا پر طبیعت لومړۍ گڼي... ایده‌الیستي اړخ جوړوي او څوک چې طبیعت لومړی گڼي، له بېلابېلو ماتریالیستي مکتبونو سره تړاو مومي.»
>
> (مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۳۲۹ مخ).

او زیاتوي:

ketabton.com - The Digital Library

«يوازينی واقعي نړۍ، چې موږ ورسره هم تړاو لرو، هغه مادي نړۍ ده چې په حواس پېژندل کېږي...زموږ شعور او فکر چې څومره هم عالي ښکاره شي، د مغز له محصول پرته - چې يو مادي جسم دی - بل څه کېدای نشي. ماده د ذهن محصول نه، بلکې ذهن په خپله د مادې عالي محصول دی.» (هماغه کتاب، ۳۳۲ مخ).

مارکس د مادې او فکر په اړه وايي:

«**تفکر له هغه مادې بېلول ناممکنه ده، چې فکر کوي.** ماده د ټولو بدلونونو موضوع ده.» (هماغه کتاب، ۳۰۲ مخ).

لنين د ماترياليستي مارکسيستي فلسفې په اړه وايي:

«ماترياليزم اساساً عيني واقعي هستي(ماده)له شعور، احساساتو او تجربې خپلواکه ګڼي... شعور يوازې د هستي انعکاس دی. په بله وينا د هستي تر ټولو سم(متناسب او په بشپړه توګه دقيق) انعکاس دی» (لنين، ۱۳ ټوک، ۲٦٦ ـ ۲٦۷ مخونه).

لنين زياتوي:

«ماده هغه څه ده چې د عمل له لارې زموږ پر حسي غړو احساس رامينځته کوي؛ ماده يو عيني

ketabton.com - The Digital Library

واقعیت دی چې د احساس له لارې یې درکولی شوو...ماده، طبیعت، هستي او جسم لومړی مقام او روح او ارواء شعور او احساس او روان دویم مقام لري.» (هماغه کتاب، ۱۱۹ـ ۱۲۰ مخ).

«د مادې د حرکت د څرنګوالي انځور د نړۍ تصویر او د «**مادي تفکر**» د رامینځته‌کېدو د څرنګوالي تصویر دی.»(هماغه کتاب، ۲۸۸ مخ).

«ماغزه د تفکر ارګان دی»(هماغه کتاب، ۱۲۵ مخ).

**ج: نړۍ او قوانین یې د پېژندلو دي**

د ایده‌الیزم پر خلاف، چې د نړۍ او د قوانینو د پېژندلو له شونتیا یې منکر او زموږ د پوهې پر اعتبار او پر عیني واقعیت باور نلري او تصور کوي چې نړۍ په هغو «فی‌نفسه خپلواکو شیانو»[1] ډکه ده، چې هېڅکله به د علم په وسیله ونه‌پېژندل شي؛ مارکسیستي فلسفي ماتریالیزم باور لري چې نړۍ او قوانین یې په بشپړه توګه د پېژندنې وړ دي؛ د طبیعت د قوانینو په اړه زمونږه پوهه په تجربې او عمل کې آزمایل شوې او دا معتبره پوهه د عیني حقیقت اعتبار لري. مارکسیستی ماتریالیزم باورمن دی چې په نړۍ کې

[1] Dinge an sich یا things-in-themselvesد ایمانوئل کانت نظریه ده چې باور یې درلود چې موږ هېڅکله په مستقیم ډول «في‌نفسه خپلواک شیان» پېژندلی نشو، بلکې یوازې د خپل ذهن او حواسو له لارې یې نښې نښانې تجربه کولای شو. یعنې څه چې په واقعي توګه شته، زموږ له پوهې او تجربې څخه په خپلواکه توګه ناپېژانده پاتې کېږي. کانت وایي چې د واقعیت داسې اړخونه شته چې زموږ له ادراکه خپلواکه دي. کانت باور درلود چې موږ کولای شو دنیا څرنګه چې موږ ته ښکاري وپېژنو خو تل داسې یو بنسټیزه واقعیت شته چې ناپېژانده پاتې کېږي. پ.ژ.

ketabton.com - The Digital Library

داسې څه نشته چې د پېژندلو وړ نه وي؛ که چېرې داسې څه وي، چې نن يې پېژندلی نشو، نو يوه ورځ به يې د علم او عمل په وسيله کشف کړو او وې‌به‌پېژنو.

انګلس د کانت او نورو ايده‌اليستانو پر دې نظريې نيوکه کوي، چې دنيا نه پېژندونکې ده او په نړۍ کې داسې «في‌نفسه خپلواکه شيان» شته چې د پېژندلو وړ نه دي. هغه له دې مشهورې ماترياليستي نظريې، چې زموږ پوهه معتبره ګڼي، د دفاع په ترڅ کې وايي:

«د دې او د دې په شان د نورو فيلسوفانه بوالهوسيو د بُطلان د ثابتولو لپاره تر ټولو ښه ځای عمل، يا په بله وينا تجربه او صنعت دی. که د يو طبيعي بهير په اړه د خپلې نظريې سما او سمښت لپاره وتوانېږو چې دا بهير رامينځته کړو، له شته شرايطو يې ببل کړو او د ځانګړي شرايطو په برابرولو سره يې د خپلو موخو خدمت لپاره يې وکارو، نو د کانت«في‌نفسه خپلواکو شيانو»بې‌مانا نظريې ته د پای ټکې ايښودلی شوو.

هغه کيميايي مواد چې د نباتاتو او حيواناتو په بدن کې توليدېدل، تر هغې پورې «في‌نفسه خپلواکه شيان»ول، چې عضوي کيميا لا توليد کړي نه وو. خو کله چې عضوي کيميا يو په بل پسې هغه توليد کړل نو دا «في‌نفسه خپلواکه شيان» يې زموږ لپاره په شيانو واړول، د بېلګې په

ketabton.com - The Digital Library

توگه د آلیزارین رنګینه ماده، چې د «مدرر[۲]» له بوټې حاصلېږي، نن یې د پخوا په شان د دې بوټي له ریښې چې په ناقص ډول په کروندو کې کرل کېږي، نه اخلو، بلکې په ډېره لږه بیه او په اسانۍ یې له تارکولو جوړو.

د کوپرنیک لمریزه منظومه پوره درې سوه کاله، سره له دې چې سل، زر یا لس ګونه زره چانسونه یې د خپل اثبات په ګټه لرل، خو بیا هم یوه فرضیه پاتې وه. خو کله چې **لیورریه** د دې سیستم د شمېرو او مالوماتو په کارولو سره، نه یوازې دا چې د یوې ناپېژندې سیارې د شتون اړتیا استنباط کړه، بلکې په آسمانو کې هغه ځای هم محاسبه کړه چې دا سیاره یې باید ونیسی او کله چې **ګاله** (Galle) دا سیاره په واقعیت کې پیدا کړه، نو د کوپرنیک سیستم ثابت شو.» (مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۳۳۰مخ).

لنین، د **بوګدانف**، **بازاروف**، **یوشکویچ** او د **ماخ** د نورو پلویانو په فیدئیزم(هغه ارتجاعي تیوري چې ایمان پر علومو لومړی ګڼي) د انتقاد په ترڅ کې د ماتریالیزم له مشهورې نظریې څخه، چې د طبیعي قوانینو په اړه

---

[۲] madder یو ډول بوټی دی چې له ریښې به یې رنګ جوړاوه. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

زموږه علمي پوهه معتبره شمېري او علمي قوانين يې عيني حقيقت ګڼي، په دفاع سره وايي:

«معاصر فيدئيزم علم کله هم نه نفی کوي، يوازی د علم «له مبالغې ډکه ادعا»، چې د عيني حقيقت ادعا ده، نفي کوي. که عيني حقيقت (څرنګه چې ماترياليستان ورباندې باور لري) وجود لري؛ که طبيعي علوم، چې د انسان په «تجربو» کې بهرنۍ نړۍ منعکسوي، دا توان ولري چې په يوازې توګه عيني حقيقت موږ ته راکړي، نو بيا هر ډول فيدئيزم په مطلقه ردېږي.»(لنين، ۱۳ ټوک، ۱۰۲ مخ).

دا د مارکسيستي ماترياليستي فلسفي د ځانګړتياو لنډون دي.

نو په دې پوهېدل سخته نه ده، چې د ټولنيز ژوند او د ټولنيز تاريخ مطالعې لپاره د فلسفي ماترياليزم د اصولو پراخول څومره زيات اهميت لري او د ټولنې په تاريخ او د يو پرولتاريايي ګوند په عملي فعاليتونو کې د دې آرونو تطبيقول څومره مهم دي.

که د طبيعي ښکارندو تر مينځ اړيکې او متقابل تړاو د طبيعي تکامل قوانين دي نو بيا د ټولنيز ژوندانه د ښکارندو تر مينځ اړيکې او متقابل تړاو هم ناڅاپي پېښې نه، بلکې د ټولنيز تکامل قوانين دي.

نو ټولنيز ژوند او ټولنېز تاريخ د «ناڅاپي پېښو» ټولګه نه، بلکې د ځانګړو قوانينو د تطبيق له مخې د ټولنې تکاملي بهير دی، چې د ټولنيز تاريخ مطالعه په علم بدلوي.

ketabton.com - The Digital Library

نو یو پرولتاریایي ګوند ته په کار ده چې خپل عملي فعالیت د ټولنیز تکامل پر قوانینو او د دې قوانینو د مطالعې پر بنیاد ودروي، نه د «مخورو کسانو» د نېکو هیلو، د «عقل» او د «عمومي اخلاقو» او د داسې نورو شیانو د دساتیرو پر بنسټ.

که چېرې نړۍ د پېژندلو ده او د طبیعت د تکامل د قوانینو په اړه زموږه پوهه معتبره ده او د عیني حقایقو اعتبار لري، نو بیا ټولنیز ژوند او د ټولنې تکامل هم د پېژندلو دي؛ د ټولنیز تکامل د قوانینو په اړه زموږ علمي معلومات هم معتبر دي او د عیني حقایقو اعتبار لري.

نو د ټولنیز ژوند د ښکارندو له ټولې پېچلتیا سره، د ټولنی د تاریخ علم کېدای شي د بېلګې په توګه د بیولوژي په شان په یو دقیق علم واوړي او د عملي موخو په پار د ټولنیز تکامل د قوانینو کارندتیا ولري.

نو یو پرولتاریایي ګوند باید خپل عملي فعالیت د ناڅاپي انګیزو له مخې نه، بلکې د ټولنې د تکاملي قوانینو او له دې قوانینو د حاصل شویو پایلو له مخې رهبري کړي.

همدا دی چې سوسیالیزم د بشر د ښه راتلونکي لپاره، له رویا څخه په علم بدلېږي.

د همدې لپاره د علم او عملي فعالیتونو تر مینځ او د تیوري او عمل تر مینځ تړاو او د دوی وحدت باید د پرولتاریایي ګوند لپاره د لارښودی ستوری حیثیت ولري.

سربېره پر دې، که چېرې طبیعت، هستي او مادي نړۍ لومړی او شعور او اند دویم او له لومړني مشتق شوی وي؛ که مادي نړۍ هغه عیني حقیقت راښکاره کوي، چې د انسان له شعوره خپلواکه وي او شعور د دې

ketabton.com - The Digital Library

عيني حقيقت انعکاس وي، نو پایله یې دا ده چې د ټولنې مادي حيات او ژوند لومړنی او معنوي ژوند دویم او له لومړني څخه مشتق شوی دی.د ټولنې مادي حيات هغه عيني حقيقت دی چې د انسان له ارادې خپلواکه دی، حال دا چې د ټولنې معنوي هستي د دې عيني حقيقت او د هستي انعکاس دی.

نو د ټولنې د معنوي ژوند، د ټولنيزو نظراتو، د ټولنيزو تیوري‌ګانو، د سياسي عقايدو او ګروهو او د سياسي بنسټونو د جوړښت سرچينه نبايد په خپله په نظراتو، تیوری‌ګانو، سیاسي بنسټونو او ګروهو کې ولټوو، بلکې باید د ټولنې د مادي ژوند په شرايطو او په هغه ټولنيز ژوندانه کې يې ولټوو، چې دا نظريات، تیوري‌ګانې، ګروهې او عقاید او نور يې انعکاس دي.

نو که د ټولنيز تاريخ په بېلابېلو پېرونو کې، مختلف ټولنيز نظرات او اندونه او بېلابېل سياسي بنسټونه او عقايد ليدل کېږي، که د مريیتوب په رژیم کې له ځانګړو ټولنيزو نظراتو، تیوری‌ګانو، عقايدو او ګروهو او سياسي بنسټونو سره مخ کېږو او که په فيوډاليزم کې يو ډول او په پانګواليزم کې له بل ډول سره، لامل يې په خپله د اندونو، تیوری‌ګانو، نظراتو او سياسي بنسټونو «طبیعت»او «خاصيت» نه، بلکې د ټولنيز تکامل په بېلابېلو پېرونو کې د ټولنې د مادي حيات بېلابېل شرايط دي.

د ټولنې هستي چې څنګه وي؛ د ټولنی د مادي ژوندانه شرايط چې څنګه وي؛ د ټولنې نظرات، تیوري‌ګانې، سياسي عقايد او سياسي بنسټونه به هم هماغه شان وي.

مارکس وايي:

ketabton.com - The Digital Library

«دا انساني شعور نه دی چې انساني هستي ټاکي، بلکې دا ټولنيزه هستي ده چې انساني شعور ټاکي.»(مارکس،د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۲٦۹مخ).

نو د دې لپاره چې د پرولتاريا گوند په سياست کې تېروتنه ونکړي او په ابته خيالپنځونی اخته نشي بايد خپل فعاليتونه د «انساني عقل پر جامدو آرونو»ونه‌دروي، بلکې د ټولنې د مادي حيات پر هغو ځانگړو شرايطو يې ودروي، چې د ټولنيز تکامل ټاکوونکی ځواک دی؛ خپل فعاليتونه بايد د «مخورو اشخاصو» د نېکو آرزوگانو په بنسټ نه، بلکې د ټولنې د مادي ژوند د تکامل پر واقعي اړتياوو سمبال کړي.

د ناردونيکانو، انارشيستانو او سوسياليست ـ ريوليسرانو په گډون د اتوپيستانو د سقوط يو لامل دا و چې دوی د ټولنې د تکامل او پراختيا کې د مادي حيات د شرايطو لومړی درجه رول نه منلوو او په ايده‌اليزم کې ډوب وو؛ د دې پر ځای چې د خپلو عملي فعاليتونو بنسټ د ټولنې د مادي ژوندانه د تکامل پر اړتياوو ودروي، له دې اړتياوو له پام نيولو پرته يې په هغو «ايډه‌الو پلانونو» او «هر اړخيزه طرحونو» کېښود، چې د ټولنې له حقيقي ژوند څخه جلا وو.

د مارکسيزم – لېنينيزم ځواک او حيات په دې حقيقت ودرېدلی، چې د خپل عملي فعاليت بنسټ د ټولنې د مادي ژوند پر تکامل ږدي او هېڅکله د ټولنې له حقيقي ژوندانه نه ځان نه بېلوي.

له څه چې مارکس ويلي، داسې نتيجه بايد وانخلو چې ټولنيز نظرات، تيوری‌گانې، عقيدې او سياسي بنسټونه د ټولنې په ژوندانه کې کوم اهميت

ketabton.com - The Digital Library

نلري او پر ټولنيز ژوند او د ټولنيز حيات د تکامل پر مادي شرايطو کومه متقابله اغېزه نلري. تر دې ځای پورې موږ د ټولنيزو نظرياتو، تيوری‌گانو، عقاېدو او سياسي بنسټونو د منشا په اړه، د هغوی د پيدايښت د څرنگوالي په اړه او په دې اړه وغږېدلو، چې د ټولنې معنوي حيات د مادي حيات د شرايطو انعکاس دی؛ خو تاريخي ماترياليزم نه يوازې دا چې په تاريخ کې د دې ټولنيزو نظرياتو، تيوري‌گانو، گروهو او عقاېدو او سياسی بنسټونو له روله منکر نه دی، بلکې د ټولنې په حيات او په تاريخ کې يې رول مهم گڼي او د دې فکتورنو پر اهميت ټينگار کوي.

ټولنيز نظرات او تيوری‌گانې بېلابېل ډولونه لري. داسې زړې ايدې او تيوری‌گانې شته، چې عمرونه يې پای ته رسېدلي او د ټولنې د مړژواندي ځواکونو گټې ساتي. د دوی اهميت حقيقتاً په دې کې دی چې د ټولنې تکامل او پرمختگ ته خنډ جوړوي. د دې تر څنگ داسې نوې او پرمختللې ايدې او تيوري‌گانې هم شته، چې د ټولنې د مخکښو ځواکونو د گټو او منافع په خدمت کې دي. د دوی اهميت بيا په دې کې دی چې د ټولنې تکامل او پرمختگ اسانوي او څومره چې د ټولنې د مادي حيات اړتياوې په زياتې ځيرتيا منعکس کړي، اهميت يې هومره زياتېږي.

نوې ټولنيزې ايدې او تيوري‌گانې يوازې هغه وخت رامنځته کېږي، چې د ټولنې مخې ته د ټولنې د مادي حيات تکامل نوې مسئلې او دندې راوپنځوي. کله چې دا ايدې او تيوري‌گانې رامنځته شي په هغو خورا پياوړي ځواکونو اوړي چې د هغو نويو دندو پلي کول اسانوي، چې د مادي ژوندانه تکامل رامينځته کړي دي؛ دا ايدې او تيوری‌گانې په هغو ځواکونو بدلېږي چې د ټولنې پرمختگ اسانوي. همدا دی چې د نويو ايدو، د نويو

ketabton.com - The Digital Library

تیوري‌ګانو او نویو سیاسي نظراتو او د نویو سیاسي بنسټونو د بې‌ساري تنظیم، تجهیز او د بدلون ارزښت راڅرګندېږي. نوې ټولنیزې ایدې او تیوري‌ګانې دقیقاً د دې لپاره رامینځته کېږي، چې ټولنه ورته اړتیا لري؛ د دې لپاره چې د دې تیوري‌ګانو او اندونو له تنظیموونکي، تجهیزوونکي او بدلونکي عمل پرته د هغو بیړنیو او اړینو دندو تر سره کول ناشوني دی، چې د ټولنې د مادي حیات تکامل رامنځته کړي دي. دا نوې ټولنیزې ایدې او تیوري‌ګانې، چې د ټولنیز مادي حیات د تکامل د نویو دندو له وجې رامینځته شوي دي، خپله لاره مومي او د ولسي پرګنو په هغه ملکیت اوړي چې خلک د ټولنې د مرژواندي ځواکونو په وړاندې متحدوي او تنظیموي؛ په دې توګه د مرژواندي ځواکونو ړنګېدل اسانوي، کوم چې د ټولنې د مادي حیات د پرمختګ او تکامل په وړاندې خنډ جوړوي.

نو ټولنیزې ایدې، تیوري‌ګانې او سیاسي بنسټونه، چې د ټولنې د مادي ژوندانه د تکامل او د ټولنیزې هستۍ د بیړنیو مسئلو او دندو ثمره ده، بېرته په خپله پر ټولنیزې هستۍ او د ټولنې پر مادي حیات اغېزه کوي او د ټولنې د مادي حیات د بیړنیو دندو او چارو پلي کېدل او لا تکامل یې ممکنوي.

په دې اړه مارکس وایي:

> «تیوري همدا چې پر ولس اغېزه وکړي، په یو مادي ځواک بدلېږي.»(مارکس او انګلس،لومړی ټوک، ۴۰۶ مخ.)

که یو پرولتاریایي ګوند غواړي د ټولنې د مادي ژوندانه پر شرایطو اغېزه وکړي او د ټولنې تکامل او بهبود لا ګړندی کړي، نو باید په هغه ټولنیزې تیوري او ټولنیز اند تکیه وکړي، چې په سم ډول د ټولنې د مادي

ketabton.com - The Digital Library

حیات د تکامل اړتیاوې منعکسې کړای شي او د ولسونو پراخه پراګني وهڅولای شي، مجهز یې کړای شي او د پرولتاریایي ګوند په هغه ستر پوځ کې یې متشکل کړای شي چې د ټولنې مخکښو ځواکونه ته لار پرانېزی او ارتجاعي قوتونه ځپي.

د «اکونومیستانو» او منشویکانو د سقوط یو علت دا و چې هغوی د مخکښو تیوري‌ګانو او د پرمختللو اندونو له تجهیزوونکی، سمبالوونکی او بدلونکی رول څخه بې خبره وو؛ عامیانه ماتریالیزم ته په لوېدلو سره یې د دې عواملو رول تقریباً هېڅ ته راټیت کړی و او ګوند یې پڅتیا او مړتیا ته کاږلی و.

د مارکسیزم ـ لنینیزم د ژوندتیا او ځواکمنتیا لامل پر هغه پرمختللي تیوري تکیه ده، چې د ټولنې د مادي حیات د تکامل او پراختیا اړتیاوې په سمه توګه منعکسوي؛ تیوري تر ورې کچې پورې بشپړوي او خپله دنده ګڼي چې د دې تیوري له سمبالوونکي، تجهیزوونکي او بدلونکي ځواک څخه بشپړه استفاده وکړي.

تاریخي ماتریالیزم د ټولنیزې هستۍ او د ټولنیز شعور تر منځ اړیکه او د ټولنې د مادي او معنوي ژوندانه د تکامل د شرایطو تر منځ تړاو همدا ډول څوابوي.

ketabton.com - The Digital Library

۳

# تاريخي ماترياليزم

هغه پوښتنه چې اوس يې بايد روښانه کړو، دا ده چې د تاريخي ماترياليزم له مخې«د ټولنې د مادي حيات شرايط»چې د ټولنې بنه، اندونه، نظريات، سياسي بنسټونه او داسې نور ټاکي، څه مانا لري؟«د ټولنې د مادي حيات شرايط» څه ته وايي او کومې خاصې ځانګړنې لري؟

«د ټولنې د مادي حيات د شرايطو» په مفهوم کې تر ټولو لومړی بې‌له‌شکه طبيعت، چې ټولنه يې احاطه کړې، شامل دی. د دې تر څنګ جغرافيايی محيط او چاپېريال، چې د ټولنې د مادي حيات له ثابتو او اړينو شرايطو ګڼل کېږي او د ټولنې پر پرمختګ اغېز لري، هم شامل دي.

د ټولنې په پرمختګ کې جغرافيايي چاپېريال څه رول لري؟ آيا جغرافيايي چاپېريال د ټولنې د بڼې او د ټولنيز بشري سيستم د ځانګړتيا ټاکنده فکتور دی؟ آيا له يوه رژيمه بل رژيم ته د بدلون اصلي ځواک دی، که څنګه؟

تاريخی ماترياليزم دې پوښتنې ته منفي ځواب وايي.

بې‌له‌شکه جغرافيايي چاپېريال د ټولنې د پرمختګ له ثابتو او اړينو شرايطو څخه شمېرل کېږي او البته چې د ټولنې پر پرمختګ اغېز لري؛ يا يې ګړندی کوي او يا يې هم پڅوي، خو دا اغېزه **ټاکونکې اغېزه** نه ده، ځکه چې د ټولنې د تغيير او پرمختګ تېزوالی د جغرافيايي پرمختګ او بدلون سره د پرتلې نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

په درې زرو کلونو کې  په اروپا کې درې بېلابېلو ټولنيزو رژيمونو، يعنې لومړني کمون، مريېتوب او فيوډالي رژيمونو د يو بل ځای په بريا سره نيولی دی. د اروپا په ختيځې برخې او د سوسياليستي شوروي اتحاد په جمهوريتونو کې ان څلور ټولنيز رژيمونه د يو بل پر ځای واکمن شوي دي. خو په دې موده کې په اروپا کې نه يوازې چې جغرافيه قطعاً بدله شوې نه ده يا دومره کمه بدله شوې چې ان د جغرافيه علم يې يادوي هم نه، چې دا ډېره طبيعي خبره ده. د جغرافيايي محيط د جدي بدلون لپاره ميليونونو کلونو ته اړتيا ده، حال دا چې په ټولنيز بشري سيستم کې د يو مهم بدلون لپاره څو زره کاله يا ان  څو پېړۍ هم بس وي.

نو پايله دا چې جغرافيايي محيط د ټولنيز تکامل بنسټيز او **ټاکونکی** علت کېدای نشي، ځکه چې د لسګونو زرو کلونو په ترڅ کې تقريباً بې‌تغييره پاتې کېږي؛ د هغه تکامل اصلي علت کېدای نشي، چې د يو څو سوه کلونو په ترڅ کې له اساسه بدلېږي.

سربېره پر دې، «د ټولنې مادي حيات د شرايطو» تر مفهوم لاندې بې‌له‌شکه د نفوس د ودې او د هغه د تراکم  بېلابېلې درجې هم شاملې دي، ځکه چې انسانان د ټولنې د مادي حيات د شرايطو له اړينو عناصرو شمېرل کېږي او لږتر لږه د مشخصې شمېرې له نشتوالي پرته به يې د ټولنې مادي حيات موجوديت ونلري. آيا د نفوس وده هغه اصلي فکتور دی چې د ټولنيز بشري سيستم ځانګړنه ټاکي؟ آيا په رښتيا همداسې ده؟

دې مسئلې ته تاريخي ماترياليزم هم منفي ځواب وايي.

البته د نفوس وده د ټولنې پر پرمختګ اغېزه لري؛ پخولی يا ګړندولی يی شي، خو د ټولنې د پرمختګ اصلي ځواک نه دی او د ټولنې پر پرمختګ يې

ketabton.com - The Digital Library

اغېزه **ټاکونکې** اغېزه نه ده، ځکه د نفوس وده دا پوښتنه حلولی نشي، چې ولې د یو ځانګړی ټولنیز سیستم ځای دقیقاً دا نوی ټولنیز سیستم نیسي نه هغه بل ټولنیز سیستم؛ ولې د لومړني کمون رژیم ځای دقیقاً د مریيتوب رژیم، د مریيتوب رژیم ځای فیوډالي رژیم او د فیوډالي رژیم ځای د پانګوالی رژیم ونیو، نه بل کوم رژیم؟

که چېرې د نفوس وده د ټولنیز تکامل ټاکنده څواک وای، نو ښایي د نفوس تراکم د ټولنیز سیستم د یو عالي ډول د رامینځته کېدو سبب شوی وای، خو په واقعیت کې داسې یو څه نه ګورو. د امریکې د متحدو ایالتونو په پرتله په چین کې د نفوس تراکم څلور برابره دی، حال دا چې د ټولنیز تکامل له پلوه د امریکا متحده ایالتونه لوړ ځای لري، ځکه په چین کې لا نیمه فیوډالي رژیم واکمن دی، حال دا چې د امریکې متحده ایالتونه ډېر پخوا د پانګوالۍ لوړ پړاو ته رسېدلې دي. په بلجیم کې د امریکې د متحدو ایالتونو په پرتله د نفوس تراکم ١٩ برابره او د شوروی جمهوریتونو اتحاد په پرتله ٢٦ برابره زیات دی خو د ټولنیز پرمختګ له پلوه د امریکې متحده ایالتونه له بلجیم مخکې او بلجیم د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد څخه د یوې تکاملي تاریخي دورې په اندازه وروسته پاتې دی؛ ځکه په بلجیم کې لا پانګوالي رژیم واکمن دی حال دا چې شوروي اتحاد ډېره موده کېږي چې د پانګوالۍ کار یې پای ته رسولی او سوسیالیستي رژیم یې واکمن کړی دی.

له پورتنیو توضیحاتو دا پایله اخلو چې د نفوس وده د ټولنې د پرمختګ مهم څواک نه دی او کېدای هم نشي؛ هغه څواک نه دی چې د ټولنیز رژیم ځانګړنه او د ټولنې بڼه دې **وټاکلې** شي.

**الف:نو اصلي ټاکنده څواک کوم یو دی؟**

ketabton.com - The Digital Library

د ټولنې د مادي ژوندانه د شرایطو په ټولګه کې بالاخره هغه اصلي ځواک چې د ټولنې بڼه، د ټولنیز رژیم ځانګړنه او له یوه رژیمه بل رژیم ته د ټولنې پرمختګ ټاکي، کوم یو دی؟

تاریخي ماتریالیزم باور لري چې دا ځواک د انسان د ژوندانه لپاره **د ژوند د اړینو وسایلو د چمتو کولو** طریقه ده، **د مادي نعمتونو (ارزښتونو)** لکه د خوړو، جامو، پیزار، کورونو، د سونګ توکو او د تولیدي وسایلو، چې د ژوند او د ټولنې پرمختګ لپاره اړین دي، **د تولید طریقه ده.**

د پایېدلو لپاره باید خواړه، کالي، پیزار، کور، سونګ مواد او داسې نور شیان ولرو. دا مادي ارزښتونه باید تولید شي او د تولید لپاره یې باید هغه تولیدي وزلې او ابزار ولرو چې ورسره دا شیان او داسې نور توکي تولید کړای شوو. دا توان هم باید ولرو چې دا تولیدي وزلې او ابزار تولید او وې‌کارولی شوو.

**تولیدي وسایل**، چې ورسره مادي ارزښتونه تولیدېږي، او هغه **کسان** چې دا تولیدي وسایل کاروي او د ځانګړو **تولیدي تجربو او کاري مهارت** په پایله کې مادي ارزښتونه تولیدوي، په ګډه د یوې ټولنې **تولیدونکي ځواکونه** جوړوي.

خو تولیدونکي ځواکونه د تولید یو اړخ، یعنې د تولیدي طریقې یوه خوا جوړوي؛ هغه خوا چې له اشیاؤ او طبیعي ځواکونو سره د انسانانو هغه اړیکه ښکاره کوي چې د مادي ارزښتونو د تولید لپاره یې کاروي. د تولید بل اړخ، یعنې د تولیدي طریقې بله خوا، د تولید په پروسه کې له یو بل سره د انسانانو اړیکې ښکاره کوي، یعنې د انسانانو **تولیدي اړیکې.** انسانان له طبیعت سره مبارزه کوي او د مادي ارزښتونو د تولید لپاره یې کاروي، خو دا کارول له یو بل

ketabton.com - The Digital Library

څخه په جلا او انفرادي ډول نه، بلکې په ګډه، ډلهایزه او ټولنیزه توګه تر سره کوي. نو تولید په هر ډول شرایطو کې تل ټولنیز دی.

د مادي ارزښتونو په تولید کې انسانان بېلابېلې دوه اړخیزې او مختلفې تولیدي اړیکې جوړوي.دا اړیکې د هغو کسانو تر منځ پر مرستې ولاړې او دوه اړخیزې اړیکې کېدای شي چې له زبېښناکه آزاد دي؛ کېدای شي د واکمن او اېلمن تر منځ اړیکې وي او یا د تولیدي اړیکو له یوې بڼې څخه بلې بڼې ته د اوښتونې اړیکې وي. خو د تولیدي اړیکو ځانګړنه، چې هر ډول وي، د ټولنې د تولیدونکو ځواکونو  په شان تل په هر ژریم کې د تولید یو ضروري عنصر ګڼل کېږي.

مارکس وایي:

> «انسانان د تولید پر مهال نه یوازې پر طبیعت، بلکې پر یو بل هم اغېزه کوي او یوازې د یو ځانګړي ګډ فعالیت او د دوه اړخیزو متبادلو اړیکو له لارې تولید کولای شي. د دې لپاره چې تولید وکړای شي له یو بل سره معینې اړیکې ټینګوي او د همدې ټولنیزو اړیکو او ارتباطاتو په اډانه کې دي چې پر طبیعت عمل کوي، یعنې تولید کوي.»(مارکس او انګلس ۵ ټوک،مخ ۴۲۹ ).

نو تولید، یعنې د تولید ډول، هم د ټولنې تولیدونکي ځواکونه او هم د انسانانو تر منځ تولیدي اړیکې رانغاړي؛ دا دواړه د مادي ارزښتونو د تولید په پروسه کې د یووالي تجسم دی.

ketabton.com - The Digital Library

**ب: د تولید لومړنۍ ځانګړنه**

د تولید **لومړنۍ ځانګړنه** دا ده چې هېڅکله په یوه ځای کې د اوږدې مودې لپاره ثابت نه پاتې کېږي؛ تل بدلون او پرمختګ مومي. سربېره په دې د تولیدي طریقې بدلون، ناچاره په ګرده ټولنیز رژیم، په ټولنیزو اندونو او سیاسی نظریاتو او سیاسي بنسټونو کې د بدلون لامل کېږي، یعنې د ټول ټولنیز او سیاسي نظم د نوې کېدو باعث کېږي.

انسانان د پرمختګ په بېلابېلو پړاونو کې د تولید مختلفې طریقې کاروي یا په بله وینا د ژوند بېلابېل ډولونه غوره کوي. په لومړني کمون کې د تولید یوه طریقه، د مریيتوب پر مهال د تولید بله طریقه او په فئوډالیزم کې د تولید دریمه طریقه او داسې نورې طریقې موجودې وې او دي چې ورسره جوخت د انسانانو ټولنیز رژیم، معنوي ژوند او سیاسي نظریات او بنسټونه هم بدلېدل او بدلېږي.

د یوې ټولنې تولیدي طریقه چې هر ډول وي، د ټولنې کلیت، اندونه او تئوری‌ګانې، سیاسي نظریات او بنسټونه هم د هماغې طریقې په څېر وي. که دا خبره لږه ساده کړو، نو ویلی شوو چې د انسانانو د ژوندون انداز د هغوی د فکر کولو په انداز وي.

دا په دې مانا ده چې د یوې ټولنې تکاملي تاریخ  تر ټولو لومړی د تولید د تکامل تاریخ دی؛ د تولید د هغو طریقو تاریخ دی، چې یو په بل پسې د پېړیو په اوږود کې راغلي دي؛ د تولیدونکو ځواکونو د پرمختګ او د انسانانو تر منځ د تولیدي اړیکو  تاریخ دی.

نو د ټولنیز پرمختګ تاریخ په ورته وخت کې د مادي ارزښتونو د تولیدونکو تاریخ دی؛ د کارګرو پرګنو تاریخ دی، چې د تولید د پروسې یو

ketabton.com - The Digital Library

اساسي ځواک دی؛ هغه ځواک چې مادي ارزښتونه، چې د ټولنې د موجودیت لپاره اړین دي، تولیدوي.

که د تاریخ علم غواړو چې یو حقیقي علم وي، د ټولنیز تکامل تاریخ نور باید د پاچاهانو او جنرالانو او د هېوادونو د «فاتحانو» او «نیواکګرو» کړنو ته راټیټ نکړو، بلکې باید تر ټولو لومړی یې د مادي ارزښتونو د تولیدونکو، د کارګرو پرګنو او د خلکو تاریخ یې وګڼو.

همدا شان د ټولنیز تاریخ د قوانینو د مطالعې اصلي لامل د افرادو په فکرونو او د ټولنې په نظراتو او عقایدو کې باید ونه لټو، بلکې د تولید په هغه طریقه کې یې ولټوو، چې د تاریخ په هر ځانګړي پېر کې د ټولنې لخوا کاربدلی ده؛ یعنې د ټولنې په اقتصادي حیات کې یې باید ولټوو.

نو د تاریخ علم لومړنۍ دنده د تولید، د تولیدونکو ځواکونو او د تولیدي اړیکو د تکامل او د ټولنې د اقتصادي تکامل د قوانینو څېړنه او موندنه ده.

که یو پرولتاریایي ګوند غواړي یو واقعي ګوند ووسي، ښایي تر ټولو لومړی د تولید د تکامل او د ټولنې د اقتصادي پرمختګ د قوانینو په اړه معلومات ولري.

نو د دې لپاره چې په سیاست کې تېروتنه ونکړو، یو پرولتاریایي ګوند له هر څه وړاندې باید په دواړو برخو، هم د خپلې تګلارې د تدوینولو او هم په عملي فعالیتونو کې، د تولید او د ټولنې د اقتصادي پرمختګونو قوانین په پام کې ونیسي.

**ج: د تولید دویمه ځانګړنه**

د تولید **دویمه ځانګړنه** دا ده چې بدلون او تکامل یې تل د تولیدونکو ځواکونو، په لومړۍ درجه کې د تولیدي وسایلو له بدلون او تکامل سره

ketabton.com - The Digital Library

پیلېږي. د همدې لپاره تولیدي ځواکونه د تولید تر ټولو خوځنده او انقلابی عنصر دی. لومړی د ټولنې تولیدونکي ځواکونه بدلون او تکامل مومي او بیا د همدې بدلونونو پر **اساس** او **مطابقت،** د انسان تولیدي او اقتصادي اړیکې بدلېږي. خو دا په دې مانا نه ده چې تولیدي اړیکې د تولیدونکو ځواکونو پر تکامل کومه اغېزه نلري او تولیدونکي ځواکونه له تولیدی اړیکو سره کوم تړاو نلري. حال دا چې د تولیدي اړیکو پراختیا د تولیدونکو ځواکونو د پرمختګونو له امله ده او دا اړیکې په خپل وار د تولیدونکو ځواکونو په پرمختګ کې اغېزناکې تمامېږي؛ پرمختګ یې ګړندی یا پڅوي.

لازمه ده ووایو چې تولیدي اړیکې د تولیدونکو ځواکونو له ودې سره په تضاد کې واقع کېدلې نشي او د زیاتې مودې لپاره هم شا ته پاتې کېدلې نشي. تولیدونکي ځواکونه یوازې هغه وخت په بشپړه اندازه پرمختګ کوي چې تولیدي اړیکې د دې ځواکونو له خصوصیاتو او حالاتو سره متناسبې وي او د پرمختګ لپاره یې بشپړ میدان چمتو کړای شي.

که چېرې تولیدي اړیکې د تولیدونکو ځواکونو له پرمختګه شاته پاتې شي باید ژر یا هم په ځنډ د تولیدونکو ځواکونو د پرمختګ له درجې او ځانګړتیاوو سره متناسبې شي، چې عملاً همداسې کېږي؛ که چېرې داسې ونشي، د تولیدونکو ځواکونو او د تولیدي اړیکو وحدت په یو تولیدي سیستم کې له بنسټه نقضېږي، تولید په مجموعي توګه مختلېږي، د تولید بحران رامنځته کېږي او تولیدونکي ځواکونه نابودېږي.

د بېلګې په توګه د پانګوالو هېوادونو اقتصادي کړکیچونه یادولی شوو، چې په کې تولیدي اړیکې د تولیدي ځواکونو له خصوصیاتو سره تړاو نلري او په تضاد کې دي. په دې هېوادونو کې پر تولیدي وسایلو د پانګوالو خصوصي

ketabton.com - The Digital Library

مالکیت د تولیدي پروسې له ټولنیزې ځانګړتیا او د تولیدونکو ځواکونو له خصوصیاتو سره په ښکاره ناهمغاړي او تضاد کې دي. دا تضاد هغه بحرانونه رامنځته کوي، چې د تولیدي ځواکونو د نابودېدلو لامل کېږي. سربېره پر دې په خپله دا نههمغاړیتوب د هغه ټولنیز انقلاب لپاره یو اقتصادي بنسټ جوړوي، چې موخه یې د شته تولیدي اړیکو نابودېدل او د تولیدونکو ځواکونو له ځانګړتیاوو سره متناسبې نوې تولیدي اړیکي رامنځته کول دي.

د دې بېلګې مقابل کې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد کې ملي سوسیالیستي اقتصاد لرو، چې په کې تولیدي اړیکې په بشپړه توګه د تولیدونکو ځواکونو له خصوصیاتو سره متناسبې دي؛ چېرې چې پر تولیدي وسایلو ټولنیز مالکیت د تولید د ټولنیز بهیر له ځانګړتیاوو سره کاملاً متناسب او د همدې لپاره اقتصادي بحرانونه او د تولیدونکو ځواکونو ویجاړېدل نشته.

نو تولیدونکي ځواکونه نه یوازې چې د تولید تر ټولو خوځنده او انقلابي عنصر دی، بلکې د تولید د پرمختګ ټاکونکی عنصر هم دی.

همدا شان هر ډول تولیدونکي ځواکونه چې ولرو، تولیدي اړیکې باید هماغه شان وي.

د تولیدونکو ځواکونو وضعیت دا پوښتنه ځوابوي چې له کومو تولیدي وسایلو سره انسان مادي ارزښتونه تولیدوي، خو د تولیدي اړیکو وضعیت بیا دا پوښتنه ځوابوي چې د **تولیدي وسایلو**(ځمکه، ځنګلونه، اوبه، کانونه، اومه مواد، د تولید افزار، د تولید سیمې، د نقلیه او ارتباطاتو وسایل او ...) مالک او څښتن څوک دی، څوک تولیدي وزلې اداره کوي، د افزارو مالکیت او مدیریت د ټولنې په لاس کې دی، که د انفرادي اشخاصو، ډلو او یا طبقو په لاس کې چې د نورو کسانو، ډلو یا طبقو د زبېښاک لپاره یې کاروي؟

ketabton.com - The Digital Library

دلته به له لرغی تر ننه د تولیدونکو ځواکونو د تکامل او پرمختګ یو عمومي انځور وړاندې کړو: لومړني ډبرین وسایل په غشي او لیندۍ بدل شول او ورسره سم د ښکار پېر د ښکار پېر د څارویو په اهلي‌کولو او په لومړنۍ مالدارۍ واوښت؛ ډبرین وسایل په فلزي آلاتو بدل شول (اوسپنیز تبرګي، له اوسپنیزو غاښورو سره لرګینې یبوې او داسې نور)؛ له دې سره کرکیل پیل شو؛ د کارندو وسایلو لپاره د فلزي آلاتو لارغاونه او د پښن د بټۍ معرفي کېدنه او همدا ډول د کنډولو او ختینو لوښو پېژندنه او ورسره د لاسي‌کسبګرۍ پرمختګ، له لاسي کسبګرۍ د کرهنې بېلېدنه، د مستقله کسبګرۍ د صنعت پرمختګ او ورپسې د مانوفکتور رامینځته کېدنه؛ د لاسي کسبګرۍ د صنعت له افزارو څخه ماشینونو ته اوښتنه او په میکانیزه صنعت باندې د لاسي صنایع او مانوفکتور بدلېدنه؛ د میکانیزه سیستم بدلون او د لویه مډرنه میکانیکي صنایع رامینځته کېدنه؛ دا د انساني ټولنې د تاریخ په بهیر کې د تولیدونکو ځواکونو یو عمومي او نابشپړه انځور ښکاره کوي.

روښانه ده چې د تولیدي وسایلو رغاونه او پرمختګ له بشره په مستقله توګه تر سره شوی نه دی، بلکې د هغو انسانانو لخوا تر سره شوی چې له تولید سره یې اړیکې درلودلي دي. نو د تولیدي وسایلو او افزارو له تغییر او پرمختګ سره انسان، چې د تولیدي ځواکونو تر ټولو مهم عنصر ګڼل کېږي، هم تغییر او پرمختګ کوي او په تولید کې یې تجربه، کاری مهارت او د تولیدي وسایلو د کارونې توان یې بدلون مومي او لا بشپړېږي.

نو د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو تر منځ تولیدي اړیکې، یعنې د هغوی تر منځ اقتصادي اړیکې د ټولنې د تولیدونکو ځواکونو له بدلون او تکامل سره بدلون او تکامل مومي.

ketabton.com - The Digital Library

### د توليدي اړيکو عمده ډولونه

تاريخ پېنځه ډوله **عمده** توليدي اړيکې پېژني:د لومړني اشتراکي رژيم، مريييتوب، فئوډالي، پانګوالۍاو سوسياليستي رژيمونو توليدي اړيکې.

په لومړني اشتراکي سيستم کې د توليدي اړيکو اساس پر توليدي وسايلو له ټولنيز مالکيت څخه عبارت و. دا اړيکه د هغه پېر د توليدونکو ځواکونو له خصوصياتو سره اصولاً همغاړه وه. ډبرينو افزارو او بيا غشي او ليندۍانسانانو ته اجازه نه ورکوله چې د طبيعي ځواکونو او داړنو ځناورو په وړاندې انفرادي مبارزه وکړي. په دې دوره کې انسانان د دې لپاره چې له ځنګلونو ميوه وشکوي، له اوبو کبان ونيسي، هستوګنځای ولري، له ولږې مړه نشي يا د داړونو حيواناتو ښکار او د چم او ګاونډ قبيلو قرباني نشي نو مجبور وو چې په ګډه کار وکړي. دا ګډ کار پر توليدي افزارو او همدا ډول پر توليدي محصول باندې د ګډ مالکيت لامل شو. په لومړني اشتراکي کمون کې پر توليدي وسايلو د خصوصي مالکيت فکر موجود نه و، يوازې پر ځينو توليدي افزارو شخصي مالکيت شتون درلود، چې هغه هم له داړنو حيواناتو څخه د دفاع په موخه کارول کېدل. په دې دوره کې زبېښناک او طبقاتو شتون نه درلود.

د مريييتوب يا بردګۍ په رژيم کې د توليدي اړيکو اساس پر توليدي وسايلو د مرييوال مالکيت و. په مريييتوب کې دا د توليدونکو کارګرانو، يعنې د مرييانو مالکان وو، چې کولای شول مرييان لکه څارويو وپېري، خرڅ يې کړي يا يې ووژني. په دې دوره کې د ډبرينو افزارو پر ځای فلزي افزار د انسانانو په اختيار کې وو؛ د ښکار له لارې د خوړو د آسانه او ساده تامينولو پر ځای، چې نه انسانان په کرهنې او نه هم په مالدارۍ پوهېدل، ګورو چې په

ketabton.com - The Digital Library

دې عصر کې د مالدارۍ، کرهنې، کسبگرۍ او د تولید بېلابېلو برخو تر منځ د کار وېش راڅرگندېږي؛ گورو چې د ښارونو او انفرادي اشخاصو تر منځ د تولیدي توکو د مبادلې شونتیا راښکاره کېږي؛ د یو شمېر محدودو کسانو په لاسونو کې د ثروت تراکم رامنځته کېږي او د اقلیت او لږنې په لاسو کې د تولیدي وسایلو حقیقي تراکم ممکنېږي؛ لږنې کولای شي اکثریت اېل او په خپلو مریيانو یې بدل کړي. په دې پېر کې د تولید په بهیر کې نور د ټولنې د ټولو غړو آزاد او گډ کار موندلی نشو او د مریيانو اجباري کار غالبېږي، چې د بېکارو مریيوالو لخوا استثمارېدل. نو د همدې لپاره په دې پېر کې پر تولیدي وسایلو او تولیدي محصولاتو گډ مالکیت نشته او ځای یې خصوصي مالکیت نیسي. په دې دوره کې مرییوال د کلیمې په اصلي مانا د شتمنې د لومړنې او اصلي مالک په توگه راڅرگندېږي.

شتمن او بېوزله، زبېښاکگر او زبېلل‌کېدونکې، بشپړه حقداره او له حقه بې‌برخه او د دوی تر منځ کلکه طبقاتي مبارزه؛ دا د مرییتوب د سیستم بڼه ده.

همدا دول په فئوډالي رژیم کې تولیدي اړیکې پر تولیدي وسایلو د فیوډال له مالکیت څخه عبارت دی. په دې سیستم کې فیوډال د تولیدونکې کارگر (سرف) بشپړ مالک نه دی، یعنې فئوډال نور سرف وژلی نشي خو په پلورلو او پېرلو کې یې آزاد دی. په دې دوره کې د فئوډال د مالکیت تر څنگ، پر ځینو تولیدي افزارو د کسبگرو او دهقانانو انفرادي مالکیت هم موجود دی، چې په شخصي کار خپل خصوصي تولیدي فعالیت لري. دا تولیدي اړیکې په دې دوره کې د تولیدونکو ځواکونو له خصوصیاتو سره په کلي توگه متناسبې دي. د اوسپنې اوبلنولو او د لوهارتوب رغاونه؛ د اوسپنېزې یيوې او د اوبدنې

ketabton.com - The Digital Library

ماشینونو رواجېدل؛ د کرهنې، بنوالۍ، شرابجوړونې او د لبنیاتو د تولید پرمختنګ؛ د کسبګرۍ د هټیو تر څنګ د مانوفکتور راڅرګندېدل؛ دا په فیوډالي دوره کې د تولیدونکو ځواکونو د وضعیت ځانګړي خصوصیتونه دي.

نوي تولیدي ځواکونه ایجابوي چې کارګران په تولید کې له نوښته کار واخلي او له کار سره د لېوالتیا تر څنګ له تولیده هم برخمن شي.له دې امله فئوډال له هغه مریي تېرېږي، چې له کار سره یې هېڅ ډول لېوالتیا نه ښوده او ابتکار یې نه درلود؛ فیوډال وپتیله چې د مریي پر ځای له هغه سرف سره سروکار ولري چې خپله شخصي کرهڼه او مالداري او تولیدي وسایل لري، هغه سرف چې د کروندې په کر او ارباب ته د یوې برخې د تادیې لپاره په لازم کار کې ذینفعه وي.

په دې دوره کې خصوصي مالکیت لا پرمختګ کوي. زبېښاک تقریباً د مرییتوب دورې په اندازه زیات، خو یو څه نرم شوی دی. د زبېښاکګرو او زبېښل کېدونکو تر منځ طبقاتي مبارزه د فئوډالیزم اساسي ځانګړنه ده.

خو په پانګوالۍ کې د تولیدي اړیکو اساس پر تولیدي وسایلو د پانګوالو مالکیت جوړوي. پانګوال په دې پېر کې د تولیدي کارګرانو مالک نه وي؛ مزدي کارګران وژلی یا پلورلی نشي، ځکه په دې دوره کې کارګران له شخصي پلوه آزاد، خو د تولیدي وسایلو له لرلو محروم دي. کارګران د دې لپاره چې له ولږې مړه نشي مجبور دي خپل کاري ځواک پانګوالو ته وپلوري او د زبېښاک جغ اجباراً پر غاړه ویسي. د دې دورې په لومړیو کې پر تولیدي وسایلو د پانګوالۍ د مالکیت تر څنګ، د دهقانانو او لاسي کسبګرو، چې د سرفتیا له قیودو آزاد شوي، یو ډول خصوصي مالکیت هم په پراخ ډول موجود دی، چې د دهقانانو او لاسيکسبګرو پر شخصي کار ودرېدلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

په پانګوالۍ کې د مانوفکتوري موسسو او د کسبګرۍ کارځایونو پر ځای په ماشینونو سمبالو سترو کارخانو او فابریکو په فعالیت پیل وکړ. د فیوډالانو د کروندو په ځای، چې بزګرانو په لومړنیو وسایلو کرل، هغو پانګوالیزو کرندو خپل فعالیت پیل کړ، چې په کرنیزو علومو او ماشینونو سمبالې وې.

نوي مولده ځواکونه ایجابوي چې تولیدونکي د ستمځپلي او ناپوهه سرف په پرتله ښه روزل شوي او لا ځیرک وي، چې د تولید ماشینونه وپېژني او سم یې وکاروي. پانګوالان د همدې لپاره غوره ګڼي چې د هغو مزدي کارګرانو سره اخته ووسي چې د سرفتیا له قیوده آزاد شوي او دومره پوهه او هوښیاري لري، چې ماشینونه سم وکاروي.

د تولیدونکو ځواکونو له پراخ پرمختګ سره، پانګوالي له هغو تضادونو سره مخامخېږي، چې حلولی یې نشي. پانګوال له یوې‌خوا د توکو د تولید په زیاتولو او په لا ډېرولو او له بلې‌خوا د بیو په راټیټولو سره سیالي تشدیدوي؛ د کوچني او منځني مالکیت زیات شمېر برخوال زیانمنوي او په کارګرانو یې بدلوي؛ د پېرېدنې ځواک راټیټوي، چې پایله یې د تولید شویو توکو د پلور ناشونتیا ده. د دې تر څنګ پانګوالي د تولید په پراختیا او په سترو فابریکو او کارخانو کې د میلیونونو کارګرانو په راغونډولو سره د تولید بهیر ته ټولنیزه ځانګړتیا وربخښي او په دې ډول خپل بنسټ په خپله کمزوروي، ځکه چې د تولید ټولنیزه ځانګړنه ایجابوي چې پر تولیدي وسایلو ټولنیز مالکیت واکمن وي، حال دا چې پر تولیدي وسایلو د پانګوالو خصوصي مالکیت پر خپل ځای پاتې کېږي او دا د تولید له ټولنیزې ځانګړتیا سره اړخ نه لګوي.

د تولیدونکو ځواکونو د ټولنیزې ځانګړتیا او د تولیدي اړیکو تر منځ نه پخلاکېدونکي تضادونه، د زیات تولید د دورهای کړکېچونو په بنه

ketabton.com - The Digital Library

راخرگندېږي. پانگه‌وال، چې په خپله يې ډېر خلک نېستمن کړي، خپلو توکو ته د موثرې تقاضا د نشتون له امله اړ کېږي چې محصولات وسيزځي؛ توليد شوي توکي نابود کړي؛ توليد ودروي او توليدي ځواکونه په داسې حال کې منهدم کړي، چې ميليونونه کسان د توکو د کافي نشتوالي له امله نه، بلکې د زيات توليد له کبله په ناچاره بېکاره کېږي او ولږه زغمي.

دا په دې مانا ده چې د پانگوالۍ توليدي اړيکې نورې د توليدونکو ځواکونو له ځانگړتياو سره مناسبې نه دي او دواړه سره نه پخلاکېدونکی تضاد لري او پانگواليزم د هغه انقلاب زېږونکی دی، چې پر توليدي وسايلو د پانگوالۍ د اوسني مالکيت پر ځای سوسياليستي ټولنيز مالکيت واکمنوي او دا په دې مانا چې د زبېښاکگرو او زبېلل کېدونکو تر مينځ سخته طبقاتي مبارزه د پانگوالۍ رژيم اساسي خصلت دی.

په سوسياليستي رژيم کې، چې اوس يوازې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو په اتحاد کې رامينځته شوی، د توليدي اړيکو اساس پر توليدي وسايلو ټولنيز مالکيت جوړوي. په دې ټولنه کې نه زبېښاکگر شته او نه هم زبېلل کېدونکي؛ توليد شوي محصولات «څوک چې کار ونکړي د خوړلو حق نلري» د آر له مخې د اجرا شوي کار په نسبت وېشل کېږي. په دې ټولنه کې د توليد په بهير کې د انسانانو توليدي اړيکې په ملگريزو مرستو او د هغو کارگرانو په دوه‌اړخيزو سوسياليستي مرستو ولاړې دي، چې له زبېښاکه آزاد دي. دلته توليدي اړيکې د توليدونکو ځواکونو له وضعې سره په بشپړه توگه اړخ لگوي، ځکه چې پر توليدي وسايلو د ټولنيز مالکيت له لارې د توليد ټولنيزه ځانگړنه پياوړې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

له همدې امله د شوروي جمهوریتونو اتحاد کې سوسیالیستي تولید له دوره‌ای کړکېچونو او له اړوندو ناخوالو یې محفوظ دی، ځکه چې د مصرف څخه زیات تولید نکوي. تولیدي اړیکې نه یوازې دا چې له تولیدونکو ځواکونو سره همغاړي دي، بلکې ورته د تکامل پراخه میدان هم برابروي، نو د همدې لپاره تولیدونکي ځواکونه په ډېرې چټکۍ پرمختګ کوي.

دا په تاریخي بهیر کې د انسانانو تر منځ د تولیدي اړیکو د تکامل انځور دی.

دا د ټولنې د مولده ځواکونو او په تېره بیا د تولیدي وزلو له پرمختګ سره د تولیدي اړیکو د تکاملیزه تړاو څرنګوالی دی؛ هغه تړاو چې له مخې یې د تولیدونکو ځواکونو تکامل او بدلون، په اړوندو تولیدي اړیکو کې ژر یا په ځنډ، د بدلون او پرمختګ لاملېږي.

مارکس وایي:

«که څه هم د کاري وسایلو د لومړنۍ بڼې جوړول او کارول د حیواناتو په ځانګړو ډولونو کې شتون درلود، خو دا د انساني کار د بهیر خاصه ځانګړنه ده. **فرانکلن**، له همدې کبله انسان ته افزارسازه حیوان وایي.

څرنګه چې فُسیلي هډوکي د هغو حیواناتو د پېژندلو لپاره ضروري دي، چې ډولونه یې منقرض شوي؛ همداشان له مینځه‌تللو بېلابېلو ټولنیزو او اقتصادي سازمانونو د پېژندنې لپاره دکار د وسایلو پاتېشوني مهمې دي.د اقتصادي پېرونو توپیرولو

ketabton.com - The Digital Library

لپاره تولید شوي توکي مهم نه، بلکې مهمه دا ده چې دا توکي څنګه تولید شوي دي. د کار وسایل نه یوازې چې د بشري کار د تکامل د درجې معیار دی، بلکې د هغو ټولنیزو شرایطو ښکارندوی هم دی، چې دا وسایل په کې کارېدل.» (ک.مارکس، کاپیټال لومړی ټوک، ۱۲۱ مخ، ۱۹۳۵).

مارکس زیاتوي:

-«له تولیدونکو ځواکونو سره ټولنیزې اړیکې ډېر نژدې تړاو لري. انسانان د دې لپاره چې نوي تولیدونکي ځواکونه ومومي د تولید ډول بدلوي؛ د تولید طریقې او همدا ډول د معیشت د وسایلو برابرولو د طریقې له بدلون سره انسانان خپلې ټولې ټولنیزې اړیکې هم بدلوي. مېچنه فیوډالي ټولنه او ارباب رامینځته کوي او د بخار ژرنده پانګواله صنعتي ټولنه جوړوي.» (مارکس او انګلس، ۵ ټوک، ۵٦۴ مخ).

- «د تولیدونکو ځواکونو د ودې، د ټولنیزو اړیکو د انهدام او د اندونو د راڅرګندېدلو حرکت دوامداره دی، څه چې نامتحرکه پاتې

ketabton.com - The Digital Library

کېږي، په خپله د حرکت انتزاع* ده.» (همغه کتاب، ۳٦۴ مخ).

انګلس د «مانیفست»په سریزه کې دتاریخي ماتریالیزم د فورموله کولو په ترځ کې وايي:

«د هرې تاریخي دورې اقتصادي تولید او ټولنیز جوړښت، چې الزاماً له همدې تاریخي پېر څخه راولاړېږي، د همدغې دورې د سیاسي او فکري تاریخ اساس جوړوي؛...نو (د ځمکې د لومړني اشتراکي مالکیت له انحلال وروسته) ټول تاریخ د طبقاتي مبارزې تاریخ؛ د زبېښاکګرو او زبېلل کېدونکو تر منځ د مبارزې او همدا ډول د ټولنیز تکامل په بېلابېلو پړاونو کې د واکمنو او اېلمنو طبقو تر منځ د مبارزې له تاریخ څخه عبارت دی؛...

دا مبارزه اوس داسې پړاو ته رسېدلې، چې زبېلل کېدونکې او ستمځپلې طبقه (پرولتاریا) بې له دې چې ګرده ټولنه له زبېښاک، ستم او طبقاتي مبارزې څخه د تل لپاره وژغوري، ځان د هغې طبقې (بورژوازي) له منګولو خلاصولی

*انتزاع (ابسټرکشن (abstraction)): هغه ذهني بهیر ته اشاره لري چې په کې د یو مفهوم یا شي خصوصیتونه، ځانګړتیاوې او خاص اړخونه ورڅخه بېلوي او په خپلواکه توګه یې په پام کې نیسي. پ.ژ

ketabton.com - The Digital Library

نشي، چې وربانديې ستم کوي او استثماروي
يې....» (انګلس، د مانيفست الماني چاپ سريزه).

**د: د توليد دريمه ځانګړنه**

د توليد **دريمه ځانګړنه** دا ده چې د نوي توليدونکو ځواکونو او ورسره د متناسبو توليدي اړيکو پيدايښت د زاړه سيستم دننه تر سره کيږي، نه له مخکني رژيمه جلا او له انحلال وروسته يې. دا بدلون د انسان د عمدي او شعوري کړنو پايله نه، بلکې په خپلواکه، ناڅاپي او د انسان له ارادې پرته په دوو علتونو تر سره کيږي:

لومړی دا چې انسانان د توليد د دې يا هغه دوډ په اختيارولو کې ازاد نه دي؛ نوی نسل د ژوند له پيلولو سره له هغو چمتو شويو توليدونکو ځواکونو او توليدي اړيکو سره مخامخيږي، چې د مخکنيو نسلونو د کار پايله ده. له همدې امله انسانان د دې لپاره چې مادي نعمتونه توليد کړای شي، په لومړيو کې بايد ټول هغه څه چې له مخکې د توليد په برخه کې موجود دي ومني او ځان ورسره متناسب کړي.

دويم دا چې انسانان د توليد د دې يا هغې وزلې د لا رغاونې او يا د توليدونکو ځواکونو د دې يا هغه عنصر د سمون لپاره د اقدام پر وخت په دې نه پوهيږي، درکولی يې هم نشي او غور هم وربانديې نکوي، چې دا رغاونې به څه ټولنيزې پايلې ولري. انسانان يوازې د کار په لا اسانتيا، په خپلې ورځنۍ، مستقيمې او ملموسې ګټې فکر کوي.

کله چې د لومړني اشتراکي ټولنې ځينو غړو ورو ورو او په تدريج د ډبرينو وسيلو له کارونې، اوسپنيزو وزلو ته مخه کوله؛ البته په دې نه پوهيدل او په

ketabton.com - The Digital Library

دې يې فکر هم نه‌کاوه چې دا اختراع به کومې ټولنيزې پايلې ولري؛ په دې نه پوهېدل او درکولی يې هم نشول چې اوسپنيزو وزلو ته اوښتل په توليد کې د انقلاب په مانا ده او په اوږدمهاله کې به د مرييتوب رژيم رامينځته کړي. هغوی يوازې غوښتل خپل کار لا اسانه کړي او فوري او ملموسه ګټه تضمين کړي؛ د هغوی شعوري کړنې يوازې د ورځنۍ شخصي ګټې په کوچنۍ اډانه کې محدودې وې.

کله چې د فئوډالي رژيم په پېر کې د اروپا ځوانې بورژوازۍ د کسبګرۍ د کوچنيو کارځايونو تر څنګ د لويو صنعتي کارخانو په جوړولو پيل وکړ او د ټولنې مولده ځواکونه يې له دې لارې پرمختللي کړل، البته چې نه پوهېده او فکر ته يې هم نه رسېده چې دا اختراع به څه **ټولنيزې** پايلې ولري؛ بورژوازي په دې نه پوهېده او درکولی يې هم نشول چې دا «کوچنۍ» اختراع به ټولنيز ځواکونه له سره په ډلو ووېشي، چې پايله يې به هغه انقلاب وي چې د دوو ډلو د قدرت پر ضد به وي: د پاچاهانو، چې بورژوازي يې ننګې ته خورا اهميت ورکاوه او د اشرافو، چې د بورژوازي غوره استازي دې منزلت ته د رسېدلو لېواله ول. بورژوازي صرف غوښتل د توليدي توکو لګښت راټيټ کړي او د اسيا او د نوې کشف شوې امريکې بازارونو ته لا زيات توکي صادر او ډېره ګټه وکړي. د بورژوازي شعوري کړنې يوازې د همدې عادي عملي موخې په تنګه محدوده کې تر سره کېدلې.

کله چې روسي پانګه‌والو له بهرنيو پانګه‌والو سره په روسيې کې په ټول توان مدرنه ماشيني صنايع فعاله کړه او تزاريزم يې روغ پرېښود او دهقانان يې د فيوډالانو «لطف» ته وسپارل؛ البته نه پوهېدل او دې ته يې پام نه‌کېده چې د مولده ځواکونو دا تېزه وده به څه **ټولنيزې** پايلې ولري؛ دوی نه پوهېدل او

ketabton.com - The Digital Library

درکولی یې نشول، چې د ټولنې په تولیدونکو ځواکونو کې به دا ستر خوځښت په ټولنیزو ځواکونو کې داسې نوی ډلبندۍ رامنځته کړي چې په پایله کې به پرولتاریا دهقانان له ځان سره متحد او بریمن سوسیالیستي انقلاب به تر سره کړي. دې پانګه‌والو صرف غوښتل صنعتي تولید تر ممکنه حده پراخه کړي، لوی کورنی بازار کنټرول کړي، انحصارات رامینځته او له ملي اقتصاد څخه تر ممکنه حده زیاته ګټه واخلي.

کومې کړنې چې دې پانګه‌والو د شعور له مخې تر سره کولې، د ورځنۍ عملي ګټو په کوچنۍ دایره کې سختې محدودې وې.

مارکس په دې اړه وایي:

> «انسانان د خپل ژوند په ټولنیز تولید کې (یعنې د انسانانو د ژوندانه لپاره د اړینو مادي نعمتونو په تولید کې–ستالین) داسې ځانګړې اړیکې جوړوي، چې ضروري او له ارادې یې خپلواکه دي؛ یعنې داسې تولیدي اړیکې جوړوي چې د مادي تولیدونکو ځواکونو د پرمختګ له ځانګړي پړاو سره همغږې دي.» (مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، مخ ۲٦۹ ).

خو دا په دې مانا نه ده چې د تولیدي اړیکو تغییر او له پخوانیو نویو تولیدي اړیکو ته لېږد په نرمۍ او بې له ترنګلتیا او له کشالۍ پرته تر سره کېږي. بر عکس، دا ډول بدلون معمولاً د انقلاب، د پخوانیو تولیدي اړیکو په ړنګېدو او پر ځای یې د نویو تولیدي اړیکو د جوړېدو له لارې تر سره

ketabton.com - The Digital Library

کېږي.د تولیدونکو ځواکونو پرمختګ او تکامل او په تولیدي اړیکو کې بدلون تر هغې ځانګړې شېبې پورې چې نوي او متکامله مولده ځواکونه د کمال او بلوغ حالت ته رسېږي، تر یوې کچې پورې د انسانانو له ارادې پرته او خودکاره او خپلواکه تر سره کېږي. کله چې نوي تولیدونکي ځواکونه د بلوغ کچې ته ورسېږي، موجوده اړیکې او ملاتړي یې (واکمنې طبقې)په هغه «نه‌ماتېدونکې» خنډ بدلېږي، چې یوازې د نویو طبقو له شعوري او پوهنده عمل او د دې طبقو له قهري کړنو، یعنې له انقلاب سره لېرې کېدای شي. د نویو ټولنیزو اندونو، سیاسي بنسټونو او د نوي سیاسي ځواک **ستر رول** ، چې ماموریت یې د پخواني تولیدي ځواک جبري ړنګول دي، ښه روښانه راڅرګندېږي. د نویو تولیدونکو ځواکونو او د پخوانیو تولیدي اړیکو د اختلاف او د ټولنې د نویو اقتصادي اړتیاو له امله نوي اندونه او نظریات راڅرګندېږي. دا نوي نظرات او اندونه ولسونه متشکل او بسیجوي؛ په نوي سیاسي پوځ کې سره یې راغونډوي؛ نوې انقلابي ځواک ترې جوړوي او د تولیدي سیستم د زړو اړیکو د قهري ړنګولو او د یوي نوي قطعي سیستم د جوړولو لپاره یې کاروي؛ د همدې نظراتو او اندونه له لارې د پرمختګ د خپلسره بهیر ځای د انسان شعوري او پوهنده کړنه نیسي؛ آرامه پرمختګ په قهري بدلون اوړي او د تدریجي تکامل ځای انقلاب نیسي.

مارکس وایي:

> «د بورژوازۍ ضد مبارزه کې پرولتاریا مجبورېږي د شرایطو تر فشار لاندې د یوې طبقې په بڼه متحده شي...او د انقلاب له لارې په واکمنې طبقې واړوي او د واکمنې طبقې په توګه پخواني تولیدي

ketabton.com - The Digital Library

اړيکې رنگې کړي.»(د کمونيست گوند مانيفست، ۱۹۳۸، ۵۲ مخ).

مارکس زياتوي:

- «پرولتاريا به خپله سياسي واکمنتيا وکاروي چې د بورژوازۍ له منگولو ټوله پانگه په تدريجي ډول وباسي او د توليد ټول وسايل او افزار د دولت، يعنې د واکمنې طبقې په توگه د منسجمې پرولتاريا په لاس کې متمرکز او توليدي ځواکونه به له ممکن سرعت سره زيات کړي.» (همغه کتاب، ۵۰ مخ).

- «زور، د هرې زړې ټولنې چې نوې ټولنه زېږوي، قابله ده.»(مارکس،کاپيټال، لومړی ټوک، ۱۹۵۵، مخ ۶۰۳).

مارکس په خپل يو مشهور اثر کې، چې **پر سياسی اقتصاد نقد** نومېږي، په ۱۸۵۹ کې يوه تاريخي سريزه ليکلې چې د تاريخي ماترياليزم د ماهيت په اړه دا له نبوغه ډک فورمول بيانوي:

«انسانان د خپل ژوندانه په ټولنيز توليد کې داسې معينې اړيکې ټينگوي چې ضروري او د انسان له ارادې خپلواکې دي؛ داسې اړيکې چې د مادي توليدونکو ځواکونو د پرمختنگ او تکامل له يوې معينې درجې سره متناسبې دي. د دې

ketabton.com - The Digital Library

توليدي اړيکو ټولګه د يوې ټولنې اقتصادی جوړښت جوړوي؛ هغه واقعي بنسټ جوړوي چې ورباندې حقوقي او سياسي مخبناوې رامنځته کېږي او د ټولنيز شعور او پوهنې ځانګړي ډولونه ورسره همغږې او متناسب دي. د مادي ژوندانه د توليد نوعيت د ټولنيزو او سياسي بهيرونو ډول او په ټوليزه توګه فکري حيات ټاکي. دا د انسانانو شعور او پوهه نه ده چې د هغوی ژوند ټاکي، بلکې دا ټولنيز ژوندون دی چې د انسانانو پوهه او شعور ټاکي.د ټولنې مادي توليدونکي ځواکونه د خپل تکامل په يو ټاکلي پړاو کې د شته توليدي اړيکو يا په حقوقي اصطلاح د مالکيت له هغې اړيکې سره، چې تر دې دمه يې د هغه په اډانه کې فعاليت کړی دی، په تضاد کې واقع کېږي – دا اړيکې چې تر اوسه پورې د توليدونکو ځواکونو د تکامل يوه بڼه وه، اوس ورته په يوه مانع او خنډ بدلېږي. همدلته دی چې د ټولنيز انقلاب عصر پيلېږي. د اقتصادي بنياد او بنسټ له بدلون سره د يوې ټولنې ټوله ستره مخبنا په لږ يا زيات سرعت بدلېږي.د دې ډول بدلونونو په ارزونه کې لازمي ده چې تل هغه مادي بدلون، چې په اقتصادي توليدي شرايطو کې رامينځته کېږي او

ketabton.com - The Digital Library

د طبيعي علومو په وسيله يې صحت معلومولی شوو،له هغو بدلونونو توپير کړو چې په قضايي، سياسي، مذهبي، ښکلاپېژندنې يا فلسفي برخو کې رامينځته کېږي او په لنډو کې ورته د ايډئولوژي شکلونه وايي؛ انسان د دې لارې په تضادونو پوهېږي او مبارزه ورسره کولای شي.
څرنګه چې د يو چا په اړه زموږ نظر هغه څه کېدای نشي چې نوموړی يې د ځان په اړه لري، نو همدا شان د يو متحول پېر په اړه د هغې پوهې او شعور له مخې قضاوت کولای نشو چې دا پېر يې د ځان په اړه لري، بلکې دغه پوهه او شعور بايد د مادي ژوندانه د تضادونو او د ټولنيزو توليدونکو ځواکونو او د توليدي اړيکو تر منځ د شته اختلافاتو له مخې توضيح کړو.
ټولنيز نظم هېڅکله له مينځه نه ځي، مګر دا چې ټول توليدونکي ځواکونه خپل تکاملي ظرفيت ته ورسېږي؛ هيڅ نوي او عالي توليدي اړيکې نه رامينځته کېږي، مګر  دا چې د هغوی د شتوالي مادي شرايط د زړې ټولنې په بطن کې د بلوغ تر کچې رسېدلې وي. له دې امله بشريت يوازې هغه چارې تل مخې ته ږدي چې د حلولو وس يې ولري. که موضوع لا په ځيرتيا تر مطالعې لاندې

ketabton.com - The Digital Library

ونیسو، و بهګورو چې دا ستونزې په خپله هغه
وخت راڅرګندېږي، چې د حل لپاره يې لازم
مادي شرایط یا شته یا هم د زیږ په حال کې
وي.» (مارکس، د آثارو غورچاڼ، لومړی ټوک، ۲۶۹-
۲۷۰ مخونه).

دا په ټولنیز ژوندانه او په ټولنیز تاریخ کې د مارکسیستي ماتریالیزم کاروني دي؛ دا د دیالکتیکي او تاریخي ماتریالیزم اساسي ځانګړنې دي.

ketabton.com - The Digital Library

انسانان د تولید د دې یا هغه ډول په اختیارولو کې ازاد نه دي؛ نوی نسل د ژوند له پیلولو سره له هغو چمتو شویو تولیدونکو ځواکونو او تولیدي اړیکو سره مخامخېږي، چې د مخکنیو نسلونو د کار پایله ده. له همدې امله انسانان د دې لپاره چې مادي نعمتونه تولید کړای شي، په لومړیو کې باید ټول هغه څه چې له مخکې د تولید په برخه کې موجود دي ومني او ځان ورسره متناسب کړي.
انسانان د تولید د دې یا هغې وزلې د لا رغاونې او یا د تولیدونکو ځواکونو د دې یا هغه عنصر د سمون لپاره د اقدام پر وخت په دې نه پوهېږي، درکولی یې هم نشي او غور هم ورباندې نکوي، چې دا رغاونې به څه ټولنیزې پایلې ولري. انسانان یوازې د کار په لا اسانتیا، په خپلې ورځنۍ، مستقیمې او ملموسې ګټې فکر کوي.

**Thank you for reading**

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*